د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا او
درسي کتابونو د تاليف رياست

# تاريخ

## اتم ټولګی



د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـ.ش

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا او
درسي کتابونو د تالیف ریاست

# تاریخ

## اتم ټولګی

درسي کتابونه د پوهنې وزارت پورې اړه لري. په بازار کې یې اخیستنه او خرڅونه په کلکه منع ده.له سر غړوونکو سره قانوني چلند کېږي.

د چاپ کال: **۱۳۸۸هـ.ش.**

# د بیا کتنې کمېټه

## د ژبې او محتوی کمېټه:

- محمد عزیز بختیاري د ټولنیزو علومو سلاکار.
- د سرمؤلف مرستیال عبدالغیاث غوري د ټولنیزو علومو دیپارتمنت علمي او مسلکي (غړی).
- مؤلف شیرمحمد رونقي د ټولنیزو علومو ددیپارتمنت علمي او مسلکي (غړی)
- سرمدرس الحاج عبدالاحد غزنیوال د پوهنې وزارت د علمی شورا (کارمند)
- د مؤلف د مرستیال نوماند عبدالمالک عابد د ټولنیزو علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي (غړی).
- د مؤلف د مرستیال نوماند قدیم شیرزی بابکرخیل د ټولنیزو علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي (غړی).

## دیني، سیاسي او فرهنګي کمېټه:

- دکتور محمد یوسف نیازي د پوهنې وزارت سلاکار.
- محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.
- د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار.

# د څارنې کمېټه

— دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ساینس مرکز او د خپرونو مرستیال. دکمېټې رئیس

— محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال. غړی.

— د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستانی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.

## کمپوز او ډیزاین:

- حمیدالله غفاري، فریدون هلالي او احمد جاوید عزیزي


بسم الله الرحمن الرحيم

## پیغام

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې زموږ د مجاهد ملت دکلکې ارادې، بیدریغه قربانیو، د ملګرو ملتونو او د نړۍ د بشردوستو هېوادونو د نیکو هلوځلو په پایله کې په هېواد کې سراسري سوله او مشروع سیاسي نظام ټینګ شو او له جګړې څخه را پیدا شوی څوکلن کړاو یې پای ته ورساوه. د افغانستان اسلامي جمهوریت او په سرکې یې جلالتمآب حامدکرزی د واکمن وګړنیز نظام له پېل څخه ملي سترو مــوخو ته د رسېدو په هیله د هېواد د بیارغاونې او پراختیا په ټولو برخوکې د نوو پروګرامونو تګلاره پېل کړې ده. د ښوونې او روزنې په برخه کې او د معارف د نوي کیدو او غوړېدو په لاره کې هڅې، د ملي یووالي، متمدنو، رښتینو او د پیاوړو مسلمانانو په توګه د نوی ځوان نسل د روزنې په برخه کې د دغه جلالتمآب زیات ملاتړ او زړه سواندې لارښوونې چې تر تطبیق لاندې دي د ډېرې درناوي وړ دي.
دپوهنې وزارت دهغو لارښوونو او نوښتونو له جملې څخه چې دافغانستان دپوهنې د بیارغاونې په لاره کې یې ترلاس لاندې لري، د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست ته دنده ورکړې ده چې له یوې خوا د ښوونځیو د لوست دکتابونو دکمښت او نشتوالي ستونزه لرې کړي او له بل پلوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علمي او فرهنګي پالیسۍ اوموخو په رڼا کې د داسې واحد تعلیمي نصاب په ترتیبولو بوخت شي چې د هېواد اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو ته ځواب ووایي. زموږ نوی تعلیمي نصاب چې د افغانې ټولنې له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره عیار شوی، موخه یې د هېواد د بچیانو اسلامي اوعلمي روزنه اوزده کړه ده چې په نتیجه کې یې دپوهنې د زده کوونکو، ماشومانو، تنکیوځوانانو او ځوانانو په ذهن کې سالم تفکر پیاوړی او هغوی د نوې پوهې له ارزښتونو سره آشنا کوي. زموږ د هېواد ځوانان باید متدین مسلمانان، هیوادپال، بشرپال او د پوهې او کمال پر ګاڼه سمبال انسانان وروزل شي ترڅو د علومو د پرمختیا او معاصر تمدن له پرمختګ سره اشنایي ترلاسه کړي او په ټینګ هوډ سره له هغو نوو او مثبتو بدلونونو څخه چې رامنځته شوي دي ګټه واخلي. دنوي افغانستان او د یوې سوکاله ټولنې د جوړونې په موخه د ساینس او تکنالوژۍ له بدلونونو سربېره باید د انساني علومو له بنسټونو، د بشري حقونو د ساتنې، سولې، هیوادپالنې، ملي یوالي، د استوګنې د سالم چاپیریال د ساتنې اوسوله ییز ګډ ژوند څخه خبر وي. د جهل له تورتم او د مخدره توکو له تولید او قاچاق سره مبارزه د خپلوزده کړوپه سرکې په پام کې ونیسي.
موږ له رښتینو، زړه سواندو اوتجربه لرونکو ښوونکو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په تطبیق کې د هېواد د بچیانو د زده کړې او روزنې سترمسؤلیت پر غاړه لري او دغه راز د هېواد د پوهنې د برخې له نورو علمي، فرهنګي شخصیتونو او پوهانو څخه هیله لرو چې د خپلو رغنده نظرونو او وړاندیزونو په وړاندې کولو سره زموږ له لیکوالو سره د درسي کتابونو په لیکلو او پیاوړي کولو کې مرستې وکړي. په همدې ډول له تمویلوونکو هېوادونو او درنو سازمانونو (د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پراختیا اداره، دانیدا، یونیسف، نړیوال بانک اویونیسکو)څخه چې دکتابونو په تالیف او چاپولوکې یې د پوهنې له وزارت سره مادي اوتخنیکي مرسته کړې ده مننه کوو. له ټولو ګرانو زده کوونکو، درنو ښوونکو او محترمو میندو پلرونو څخه هیله کوو چې درسي کتابونو په ښه ساتنه کې خپله مرسته ونه سپموي.

**فاروق وردک**

دافغانستان داسلامي جمهوریت دپوهنې وزیر

# لړلیــک


| عنوان | صفحه | عنوان | صفحه |
|---|---|---|---|
| لومړی څپرکی.......... | ۱ | ملکي حکومت او عسکري نظام | ۲۱ |
| عباسیان................. | ۱ | مرکزي شعبات.................... | ۲۲ |
| ابو العباس سفاح ............ | ۲ | مذهب او علم ...................... | ۲۵ |
| ابو جعفر عبدالله (المنصور).... | ۳ | الف- امام ابو حنیفه (رح)... | ۲۶ |
| محمد بن منصور مهدی...... | ۴ | ب- امام مالك (رح)...... | ۲۹ |
| موسی بن مهدی، (هادی)... | ۵ | ج- امام شافعي (رح)...... | ۳۱ |
| پوښتني.................... | ۵ | د- امام احمد بن حنبل(رح) | ۳۲ |
| هارون (الرشید) بن مهدی..... | ۶ | هـ- امام جعفر صادق (رح).. | ۳۳ |
| بهر نی اړیکي.................. | ۷ | و- امام غزالي (رح).... | ۳۴ |
| پرمختک.................. | ۷ | ز- امام بخاري (رح)..... | ۳۶ |
| د برمکیانو عروج ا و زوال..... | ۸ | پوښتني .......... | ۳۷ |
| محمد امین بن هارون ........ | ۱۰ | دویم څپرکی................ | ۳۸ |
| عبد الله بن هارون (مامون الرشید) | ۱۱ | په اسلامي نړۍ کې خانخاني | ۳۸ |
| د مامون صفتونه........... | ۱۲ | دوړو او لویو نیمه خپلواکو سلطنتونو منځ ته راتلل | ۳۸ |
| ابو اسحق محمد بن هارون(معتصم بالله) | ۱۲ | د ادریس حکومت په افریقاکې | ۳۸ |
| ابو جعفر هارون (واثق بالله)... | ۱۴ | د طاهریانو خود مختاره حکومت | ۳۹ |
| جعفر بن معتصم (المتوکل علی الله). | ۱۴ | په طبرستان کې د علوي یازندیه حکومت | ۴۰ |
| د عباسیانو د حکمرانانو انحطاط او زوال | ۱۵ | په سیستان کې د صفاریانو دولت | ۴۱ |
| په مصر کې د عباسي سلاطینو حکمرانی... | ۱۶ | د سامانیانو د حکومت رامنځ ته کیدل | ۴۱ |
| مستنصر بالله............ | ۱۶ | د بنو حمدان حکومت.. | ۴۲ |
| حاکم بامرالله............. | ۱۷ | په مصر کې فاطمیانو حکومت | ۴۳ |
| لومړی مستکفی بالله ...... | ۱۷ | د غزنویانو سلطنت...... | ۴۳ |
| پوښتني ........... | ۱۸ | غزنوي سلطان محمود.. | ۴۴ |
| دعباسیانو دورې ته یوه کتنه | ۱۹ | سلطان مسعود........... | ۴۸ |

| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| سلجوقیان .................. | ٤٩ |
| اتابکیه ............ | ٥٠ |
| غوریان.................... | ٥٢ |
| سلطان غیاث الدین ...... | ٥٤ |
| سلطان شهاب الدین.......... | ٥٥ |
| خوارزم شاهـان .......... | ٥٦ |
| د ایوبیه حکومت......... | ٦٠ |
| پوښتنې ............ | ٦١ |
| دریم څپرکی............ | ٦٢ |
| په افغانستان کې د مغولو یرغلونه. | ٦٢ |
| چنګیز او دهغه ځای ناستي کسان | ٦٢ |
| تیموریان.............. | ٦٧ |
| د تیمور اولاده | ٦٩ |
| شاهرخ میرزا | ٧٠ |
| سلطان حسین بایقرا | ٧١ |
| پوښتنې | ٧۴ |

# لومړی څپرکی

## د عباسیانو حکومت (۱۳۲- ٦۵٦ق)

دحضرت محمد ﷺ د حقیقي کاکا حضرت عباس رضي الله عنه اولاده په تاریخ کې د بنی عباس په نوم یادیږي. عباسیانو د امویانو سره مخالفت درلود او خلافت یې خپل حق ګڼله. دامویانو داداري ضعف، ځان ځانی او ظلم د دوی پراخ مملکت د بحران سره مخامخ کړی و نو په دې وجه عباسیانو د وخت څخه په استفادې سره دامویانو په ضد پاڅون پیل کړ. دخراسان (افغانستان) خلك هم د امویانو دظلم دلاسه ډیر په تکلیف وو نو د ابو مسلم خراساني په مشری یې چې یو آزادي غوښتونکی سړی و د استقلال بیرغ پورته کړ او د عباسیانو سره یې اړیکې ټینګې کړې. ابو مسلم دمروان حمار په وخت کې لښکر جوړ کړ او کوفې ته راغلل چې ابو العباس سفاح ته دخلکو څخه بیعت واخلي. په پایله کې (۱۳۲هـ) کال د (ذاب) د رود خانې په غاړه د دواړو په منځ کې جګړه پیل شوه او د مروان حمار لښکر ماته وخوړله مروان دهغه ځای څخه شام او فلسطین ته و تښتید. خو عباسیانو هغه تعقیب کړ بالآخره هغه مصر ته لاړ. او په هغه ځای کې دعباسیانو د یو پلوي لخوا د صالح په نوم په قتل ورسید. او په دې ترتیب خلافت ابو العباس سفاح ته په لاس ورغی.

# ابو العباس سفاح

(۱۳۲ _ ۱۳٦ق)

د عباسیانو لومړی حکمران ابو العباس عبدالله بن محمد (سفاح) و. د ډېرو وینو تویولو له امله ورته دسفاح لقب ورکړل شو. دده په وخت کې د حجاز والي"داؤد بن علي" د مکې او مدینې امویان ټول د تیغ څخه تیر کړل. سلیمان دبصرې امویان په قتل ورسول او عبد الله بن علي په شام کې اوسیدونکي امویان قتل عام کړل.لنډه دا چې سفاح پخپله څلور کلنه دوره کې دخپل خاندان غچ له امویانو څخه واخیست.

د سفاح دا وژنې یوازې په دښمنانو پورې محدو دې نه وې بلکې دده په امر باندې دده نږدې ملګري هم ووژل شول. ابو سلمه یې دلومړي وزیر په توګه مقرر کړ خو له یو څه مودې وروسته یې هغه هم وواژه.

د ابو سلمه له وژلو وروسته دوزارت چوکۍ خالد برمکي ته وسپارل شوه. خالد یو عجمي مسلمان و د اهلیت او استعداد له کبله په هغه زمانه کې یواځنی سړی و. سفاح پس له څلورو کلونو په ۱۳۶هجري کې وفات شو.

# ابو جعفر عبد الله ( المنصور)

(۱۳٦ _ ۱۵۸ ق) (۷۵۴م _ ۷۷۵م)

دسفاح د وفات په وخت کې دهغه ولیعهد (منصور) حج ته تللی و کله چې د حج څخه را وګرځید په تخت باندې کښیناست، منصور یو عالم، مدبر او زیرك پاچا و. دده دتدبیر له کبله د عباسیانو دحکومت بنسټونه ټینګ شول او کابو تر (۵۰۰) کلونو څخه زیات وخت د پاره یې په اکثرو افریقایي او آسیایي هېوادونو باندې حکومت وکړ. د ابو جعفر منصور دتخت کښیناستلو څخه لږ څه وروسته دده د تره زوی عبد الله بن علي چې په شام کې والي و، شورش وکړ. منصور دهغه د ټکولو لپاره خراساني ابو مسلم و ټاکه د نصیبین په سیمه کې د دواړو خواو ترمنځ ډېر خونړی جنګ پېښ شو. عبد الله بن علي ماته وخوړه او ابو مسلم بریالی شو.

ابو جعفر منصور خپل پلازمینه بغداد وټاکه "چې د دجلې د سیند په غاړه د مداین څخه (۱۵) میله شمال خواته پروت دی."

منصور څو معتمد کسان خراساني ابو مسلم ته ورولیږل ابو مسلم یې په چل او فریب پلازمینې ته راوست او هلته یې وواژه د ابو مسلم د قتل څخه وروسته د ملك په څو ځایو نو کې بغاوتو نه پیل شول. منصور په (۱۵۸)هـ ق کې وفات شو او دده پرځای مهدي پرتخت کښیناست.

## محمد بن منصور مهدی

(۱۵۸_ ۱٦۹هـ ق) (۷۷۴م_۷۸۵م)

دمنصور څخه وروسته دده زوی محمد (مهدي) حکمران شو. مهدي ډېر نرم مزاجه او حلیم سړی و. ده هغه کسان چې د منصور په وخت کې نیول شوي او بندیان شوي و ټول عفو او خوشې کړل. د عیش او عشرت سره سره دنده پیژندونکي هم و. په انصاف او عدالت کې دده دوره ممتازه وه، دقاضیانو په وړاندې به عادي او دعاموممحکومانو په ډول دریده او فیصلوته به یې ډېر احترام کاوه. د حرم مسجد ته یې پراخوالی ورکړ، د خلکو د آرامۍ له پاره یې کاروان سرایونه، لارې او سړ کونه جوړ کړل. دمکې، مدینې، یمن او بغداد تر منځ یې د پوستې سیستم په کار واچاوه . د قیدیانو د کورنیو له پاره یې د بیت المال څخه معاش مقرر کړ. دو لیعهدۍ په مسئله کې یې د

عیسی نوم خارج او دهغه پر ځای یې اول خپل زامن لومړی هادي او د هغه څخه وروسته هارون نامزد (نوماند) کړل او ددې په مقابل کې یې عیسی ته لس میلیونه درهم او ډېره زیاته ځمکه ورکړه.

## موسی(هادی) بن مهدی

(۱٦۹_ ۱۷۰هـ ق) (۷۸۵_۷۸٦م)

د مهدي دوصیت سره سم هادي په ۱٦۹هـ ق کې پر تخت کښیناست. د خپل پلار په شان دی هم د ملحدانو کلك د ښمن و. ده د دربار د دروازو ساتونکي موقوف او لیرې کړل تر څو خلك وکولای شی چې خپل شکایت مخامخ ده ته ورسوي. هادي غوښتل چې هارون له ولیعهدۍ څخه محروم او پر ځای یې خپل زوی جعفر ولیعهدۍ ته وټاکي خو د یحیی برمکي د هڅو او اصرار په پایله کې هارون د هادي تر مړینې وروسته حکومت ترلاسه کړ سره له دې چې یحیی برمکي او د هغه ملګري د هادي له خوا بندیان شول خو له څه مودې وروسته بیرته خوشې شول.

## پوښتنې:

۱- د عباسیانو په وخت کې د اسلامي مملکت پلازمینه کوم ځای ته انتقال او ولیږدیدله؟

۲-د ابو سلمه دوژلو نه وروسته د وزارت چوکۍ چاته ورسیده؟

۳- ابو مسلم خراساني د چا په وسیله ووژل شو؟

۴-مهدي د خپل حکومت په دوره کې څه اصلاحات وکړل؟

۵- هادي په خپل ژوند کې څوك ولیعهد وټاکه؟

# هارون(الرشید) بن مهدي

(۱۷۰_ ۱۹۳هـ ق) (۷۸٦_ ۸۰۹م)

د هادي د مړینې څخه وروسته دده ورور هارون الرشید د پلار د وصیت سره سم په تخت کښیناست. د بغداد ښار دده د پراخه سلطنت پلازمینه وه. دا ښار ددیني او دنیایي علومو مرکز وګرځید، دی خپله عالم او مدبر شخصیت و. د علماوو سر پرستي به یې کوله. د هارون الرشید ښځه زبیده زړه سواندې او سخي ښځه وه، دې د طایف شریف څخه ترمکې پورې یوه ویاله وویستله چې د حرم اوبو د کموالي استونزه لیرې کړي. ویاله تر نن ورځې پورې (بئرزبیده) په نامه شهرت لري. ځینې ناکراري چې د هادي په زمانه کې منځ ته راغلې وې دده په واسطه له منځه یووړل شول.

## بهرنۍ اړيکي

د چين د شهنشاه او د هند وستان د راجه سره د هارون الرشيد دوستانه اړيکي وې او همدارنګه د فرانسې سره يې هم دوستانه اړيکي درلودل. د همدې اړيکو په بنسټ هغه ګړۍ (ساعت) چې اسلامي پوهانو جوړ کړې وه د فرانسې پاچا شارلمان ته د هارون الرشيد له خوا واستول شوه. شارلمان د ساعت په ليدلو سره حيران شو او ګمان يې وکړ چې ښايي د ساعت دننه به کوم پيرى"جن" ناست وي.

## پرمختګ

د هارون الرشيد دحکومت دوره داسلام په تاريخ کې يوه طلايي دوره وه. په دې دورې کې مسلمانان د علمي او سياسي پرمختګ له پلوه انتهايي عروج ته رسيدلى وو. دقوت او ثروت او شان او شوکت له پلوه د دنيا هيڅ قوم د مسلمانانو سره سيالي نشوه کولى. د هارون له برکته په بغداد کې دهر فن استاذان راټول شوي وو.
د امنيت د خوندي ساتلو په لاره کې يې پوره هڅه کوله په خپله يې د دولت د ټولو چارو څارنه کوله . دده په ټول هېواد کې کراره کراري وه

او خلك له هره پلوه خوښ او خوشحاله وو. دده په زمانه کې مسجدونه، مدرسې، روغتونونه، کاروان سرایونه، پلونه او لویې ویالې جوړې شوې.هارون الرشید علم او هنر ته ډېره پاملرنه درلوده ځکه نو ادبیاتو، صنایعو او علومو په دغه وخت کې ښه پرمختګ وکړ.

هارون الرشید په(۱۹۳) هـ ق کال کې له (۲۳) کاله حکومت کولو څخه وروسته مړ شو.

## د برمکیانو عروج او زوال

د هارون الرشید دسلطنت دوره د عباسیانو د دورې ډیره ښه زمانه وه. او برمکیانو په دې برخه کې له هغوی سره ډېر زیاته مرسته وکړه.

برمکیان اصلاً د بلخ څخه وو او کله چې مسلمانانو بلخ فتح کړ برمك دمشق ته لاړ او هلته د ولید ثاني له خوا ورته دکتابت دنده وسپارل شوه. دهغې څخه وروسته کله چې خراساني ابو مسلم د عباسیانو ددعوت سلسله په خراسان کې پیل کړه د برمك زوی خالد د یوه داعي او بلندوی په توګه له ابو مسلم سره یو ځای شو. کله چې عباسیان بریالي شول، ابو العباس سفاح خالد خپل وزیر وټاکه. دمنصور په وخت کې هم تر ډېرې مودې پورې د ا سړی د وزارت په چوکۍ پاتې شو. د خالد زوی یحیی د خپل پلار په شان پوه سیاست

مدار و (۱۷) کاله یې په عباسي سلطنت کې چارې سرته ورسولې. هارون الرشید هغه خپل صدر اعظم وټاکه او منبر یې ورته وسپاره او په دغه توګه یحیی یې د هېواد په ټولو چارو کې د واك خاوند وباله د یحیی څلور زامن وو چې فضل، جعفر، محمد او موسی نومیدل. دوی د پلار په شان دښه فکر او پوهې خاوندان وو فضل چې لومړی د خراسان او بیا د مصر والي شو خپل استعداد او لیاقت یې په ښه توګه څرګند کړ .کله چې یحیی د زوړ والي له کبله د صدارت له چارو څخه لاس واخیست نوپه خپل ځای یې خپل زوی فضل مقرر کړ او بیا دده څخه وروسته یې بل زوی جعفر دهغه پر ځای صدر اعظم شو. هغه هم د پلار په شان یوه شېبه د مملکت په چارو کې لټي ونکړه.

د برمکي کورنۍ عام المنفعه (ټول ګټي) اقدامات د هغوی د ځینو مخالفانو دستر ګو اغزي شول ترهغه چې په پای کې هارون الرشید په دې کورنۍ باندې بدګمانه شو او په ۱۸۷ هـ ق کال کې یې خپل صدر اعظم جعفر وواژه. یحیی او فضل په بندیخانه کې مړه شول. دې واقعې د هارون الرشید د حکومت دوره داغي کړه.

# محمد امین بن هارون

(۱۹۳_ ۱۹۸هـ ق)

د هارون الرشید دمړینې څخه وروسته په ۱۹۳ هـ ق کې امین په تخت کښیناست .امین بې تدبیره او عیاش انسان و. ده د پلار دوصیت په خلاف خپل زوی ولیعهد وټاکه. کله چې مامون ددې پېښې نه خبر شو نو دامین په خلاف راپورته شو،ځکه چې ځان یې دامارات مستحق ګاڼه.

د مرکز سره یې اړیکې پرې کړې او په خپله یې دسلطنت اعلان وکړ، او دبغداد په لوري یې مخه وکړه. امین سم د لاسه پنځوس زره عسکر ولېږل. علی بن عیسی مخکې له دې څخه چې خراسان ته ورسېږي د(ري)سره نږدې د طاهر له خواچې د مامون الرشید سپهسالار و ووژل شو. بل کال بیا امین نوی او تازه لښکر د مامون مخې ته ورولېږه خو دا ځل هم د ماتې سره مخامخ شو او طاهر د امین لښکرې تر بغداده پورې وځغلولې.

په ۱۹۸ هـ ق کال کې یې بغداد ونیو او امین یې بندي کړ. وایي چې دڅو تنو په وسیله یې امین وواژه او د هغه سر یې مامون ته چې په مرو کې و واستاوه او په دې ډول ما مون امارت ته ورسېد.

# عبدالله بن هارون ( مامون الرشيد )

(۱۹۸_ ۲۱۸ﻫ ق)    (۸۱۳_۸۳۳م)

د امین د وژلو څخه وروسته په ۱۹۸ هـ ق، کال مامون د سلطنت په تخت کښیناست. د مامون روزنه د جعفر برمکي تر لارښوونې لاندې شوې وه. برمکي په هغه وخت کې د علم او فضل له پلوه ډېر اوچت شخصیت و. د ۱۹۸هجري ق کال څخه تر ۲۰۳هـ ق کاله پورې مامون خپله پلازمینه (مرو) چې په خراسان پورې اړونده سیمه وه، وټاکله. وروسته بیا د ۲۰۳ هـ ق کال څخه تر ۲۱۸ هـ ق کاله پورې یې د امام رضا(رح) په لارښوونه بغداد خپله پلازمینه و ټاکله. د ا دوره د اسلام په تاریخ کې د علم او فن د ترقۍ په لحاظ ډېره مهمه دوره شمېرل کېږي. مامون خپله لور د فضل بن سهل په مشوره امام علي بن موسی رضا(رح) ته په نکاح کړه. امام علي رضا (رح) یې ولیعهد وټاکه او دعلویانو شین بیرغ یې د عباسیانو د تورې جنډې په ځای وځړاوه.

طاهر فوشنجي یې خپل سپه سالار وټاکه. مامون په بغداد کې دخلکو بدامني له منځه یوړه او نور بغاوتونه ( او ناکرارۍ) هم چې د مامون په وخت کې پیدا شوې وې دده په تدبیر سره له منځه ولاړې.

### دمامون صفتونه:

مامون وروسته له شلو کلو او پنځو میاشتو حکومت کولو څخه مړ شو. د علم او فضل له پلوه یې په ټولو عباسي حکمرانانو کې ډېر اوچت مقام درلود. په تفسیر، فقه، فلسفه، شعر او ادب کې یې پوره مهارت درلود. دقرآن کریم حافظ هم و.

دده په دوره کې عدل او انصاف ته خاصه پاملرنه کېدله او د عدالت یا قضاء په دفتر کې غریب او معتبر ته یوشان کتل کیدل. په خپله به دی هم د معمولي انسانانو په څیر د قاضیانو په مخکې دریده او فیصلوته به یې احترام کاوه. مامون له شلو کلو او پنځو میاشتو پاچاهي کولو او وروسته په حق ورسید.

## ابو اسحق محمد بن هارون "معتصم با للّٰه"

(۲۱۸_ ۲۲۷ه) (۸۳۳_ ۸۴۲م)

دمامون د وفات څخه وروسته فوځ غوښتل چې عباس د مامون زوی پرتخت کښینوي لیکن عباس د پلار د وصیت احترام وساته او خپل تره ته یې بیعت وکړ. په دې ترتیب سره المعتصم بالله دعباسي سلطنت حکمران وټاکل شو.

معتصم د مامون پیروي وکړه، په خپل حفاظتي فوځ کې یې ترکي سپاهیان شامل کړل.

مامون پخپله دوره کې د سلطنت د نظم او نسق له پاره د عربانو پرځای د ایرانیانو څخه کار واخیست خو د معتصم په دوره کې زیات شمېر ترکان په فوځ کې لیدل کیدل .که څه هم دیوې خوا د هېر ګټور ثابت شول ځکه چې ترکان ډېر جنګیالي خلك وو، خو د بلې خوا هر څه به چې فوځ وغوښتل هم هغسې به کیدل. د دوی په اشاره به خلیفه معزول شو او یا به وژل کل شو. معتصم د ترکي فوځ له پاره د سامرا ښار د بغداد په شمال کې (۷۵) میله لېرې د دجلې د سیند په غاړه جوړ کړ چې کابو له (۲۲۱ هـ ق کاله څخه تر ۲۷۹ هـ ق)کال پورې د ابنار د عباسي خلیفه ګانو پلازمینه وه. وروسته بیا بېرته بغداد ته انتقال او ولېږدید. معتصم په کال "۲۲۷ هـ ق "کال کې وفات شو. دی تند مزاجه او سخت ګیر انسان و لیکن زړه ور او ښه تنظیم کوونکی هم و.

## ابو جعفر هارون (واثق بالله)

**له(۲۲۷نه پر ۲۳۲ هـ ق) کاله او له (۸۴۲نه تر ۸۴۷) میلادي کاله پورې**
د معتصم د وفات څخه وروسته د ده زوی واثق بالله پرتخت کښیناست. ده دعلم او فن سره ډېره زیاته مینه درلوده دده په وخت کې صنعت او تجارت ته ځانګړې پاملرنه وشوه. دی یو عیاش او شراب خور انسان و.
په فوځ کې یې د عربو او ایرانیانو په مقابل کې ترکانو ته ترجیح ورکوله. جرنیل اشناس یې چې دترکانو څخه و د نایب سلطنت په توګه مقرر کړ. د شام او فلسطین عربو ددې پالیسۍ خلاف شورشونه وکړل لیکن دترکي فوځ له خواغلي کړی شول. په ۲۳۲هـ کې خلیفه واثق وفات شو.

## جعفر بن معتصم (المتوکل علی الله)

(۲۳۲_ ۲۴۷هـ) (۸۴۷_ ۸٦۱م)

دواثق دوفات څخه وروسته د هغه ورور متوکل په تخت کښیناست.

دی ډېر تند مزاجه او سخت ګیره انسان و. د معتزله وو په خلاف یې جهاد اعلان کړ. هغه کسان چې د تېرو حکومتونو له خوا د معتزله عقیدې دنه قبلولو په جرم بندیان شوې وو، خوشې کړای شول.

# د عباسي حکمرانانو انحطاط او زوال

(۲۴۷_ ٦٥٦هـ ) (٨٦١_١٢٥٨م)

د متوکل د قتل سره سم دبني عباس د زوال لومړۍ نښې نښانې سرګنده شوې. د متوکل څخه وروسته (۲۷) عباسي حمکرانانو حکومت وکړ او آخرنی سلطان يې معتصم بالله و. دده په وخت کې د عباسيانو فوځي طاقت ډېر کمزوری و. د سلطان سياسي وقار دخلکو په وړاندې ډېر ټيټ و. ترکي او بُوَيهی[۱] سردارانو په ټول اسلامي سلطنت باندې قبضه کړې وه. د سلطان دربار ددې سر دارانو د ساز شونو مرکز ګرځيدلی و. په دې حالاتو کې دتاتاريانو له خوا د عباسي سلطنت په پلازمينه بغداد باندې يرغل وشوه. بغداد يې ونيوه او معتصم بالله يې وواژه.

د معتصم بالله د وژلو نه وروسته دده تره ابو القاسم احمد د تاتاريانو دقيد څخه ځان خلاص کړ او په ۶۵۹ هـ ق کال کې د څو عربي سردارانو سره مصر ته ورسيد. هلته د غلامانو د کورنۍ څلورم پاچاملك الظاهر بيرس حکمران و. ده ابو القاسم ته ښه راغلاست وويل او په تخت باندې يې کښيناوه. دده وروسته د مصر په ټولو

---

۱- آل بويه (دبويه اولاده)

جوماتونو کي دده په نامه نه یوازي خطبه وویل شوه او هم په ټول ملك کې دده سکه جاري شوه. په دې توګه سره عباسي خلافت له بغداد نه مصر ته ولېږدید په مصر کې (۱۸) عباسي خلیفه ګان تېر شوي دي. ددوی د حکمرانۍ دوره له **۶۵۹** هـ ق څخه تر **۹۲۳** هـ ق پورې وه خو په دې موده کې دمملکت حقیقي ځواک د اُمراوو په لاس کې و او هغوی د مملکت د نظم او نسق ، د سرو او سپینو څښتنان وو. عباسي حکمرانان دوی ته اړ او محتاج وو. حتی دوی ته دومره اختیارات هم نه وو لکه څومره چې د دوی پخوانیو ته د دیلیمي او سلجوقیانو د سیورې لاندې حاصل وو.

## په مصر کي د عباسي سلاطینو حکمرانۍ

**(٦٥٩- ٩٢٣هـ)**

**مستنصر بالله:** (٦٥٩- ٦٦٠هـ):

مستنصر بالله په قاهره کې د یو څه وخت تېرولو څخه وروسته د عراق د تللو اراده وکړه. په لاره کې د تاتاریانو پوځ سره وجنګېده. د ډېرو وینو تویولو څخه وروسته مصري پوځ ماته وخوړه. د خپلې

ناکامۍ څخه مایوس او ځان یې مخفي کړ. ځینې وایي چې په همدې جنګ کې ووژل شو.

## حاکم بامرالله (۶۶۱- ۷۰۱هـ ق) کال پورې:

د مستنصر نه وروسته ظاهر بیرس د عباسي خاندان یو شخص ابو العباس احمد په قاهره کې مقرر کړ. نوی حکمران د حاکم بامر الله لقب غوره کړ. وروسته له یو وخت څخه دده او ظاهر تر منځ اختلاف پیدا شو. دی یې بندي او نظر بند کړ. دده د حکومت موده د (۴۰) کلو څخه زیاته وه. سره له دې چې دده په نامه سکه جاري شوه او خطبه هم دده په نامه ویل کېده لیکن دده د حکومت زیاته موده په زندان کې تېره شوه او په (۷۰۱هـ ق) کال کې مړ شو.

## لومړی مستکفي بالله له (۷۰۱تر ۷۴۰هـ ق)

د حاکم د وفات څخه وروسته دده زوی سلیمان د مستکفي بالله په لقب سره د سلطان ناصر له خوا پرتخت کښیناست. د دوی ترمنځ پوره (۳۰) کاله اړیکې ډېرې ښې وې لیکن شر پسنده عناصرو د دوی په منځ کې بد ګماني پیدا کړه د سلطان واک او تنخوایي کمه کړه بالاخره په (۷۴۰هـ ق) کال کې وفات شو. دده څخه وروسته واثق بالله سلطان شو دده سلطنت شپږ میاشتې دوام وکړ. کله چې دی معزول شو نودده پر ځای احمد بن مستکفي د دویم حاکم بامرالله په لقب سره د سلطنت په تخت کښیناست ددې حکمران په زمانه کې د مصر او وه فرمان روایان تېر شول. دوی ټولو حاکم بالله ته په درنه او

د قدر په سترګه کتل. حاکم په (۷۴۸)هـ ق کال کې وفات شو اودده پر ځای دده ورور ابو بکر بن مستکفي د لومړي معتمد بالله په لقب سره په تخت کښیناست. ده کابو (۱۵) کاله حکومت وکړ، په همدې ترتیب سره د مصر ټول قدرت د مصر د اُمراوو سره وو.

## پوښتنې

۱- د هارون الرشید (ماندینه) څه نومیده او څه مهم او رټ کارونه یې وکړل؟

۲- هغه ساعت چې د هارون الرشید په وخت کې جوړ شوی و کوم پاچا ته ولیږل شو؟

۳- د هارون الرشید د سیرت او کار نامو په باره کې لنډ معلومات ورکړئ.

۴- مامون خپله پلازمینه کوم ځای وټاکله او دده په دوره کې د عدل او انصاف په هکله لنډ معلومات ورکړئ.

۵- د امین د شخصیت په باره کې لنډه تبصره وکړئ.

۶-د معتصم بالله په وخت کې کوم خلك په پوځ کې ډېر وو او کوم کارونه به یې کول؟ په دې هکله ۷ کرښې ولیکئ.

۷- واثق بالله څنګه سړی و؟

۸- د معتزله وو په خلاف کوم حکمران جهاد اعلان کړ؟

۹- د عباسیانو وروستی حکمران څوك و په کوم کال کې او د چا په واسطه له منځه ولاړ؟

## دعباسيانو دورې ته يوه کتنه

دعباسيانو دوره دامويانوپه خلاف چې دفتوحاتو دوره بلل کيږي دمدنيت او پرمختګ له کبله شهرت لري. اداري تشکيلات سم اودايمي او موقتي عسکر په ښه توګه تنظيم شول ، علم ، فن او پوهنې په زړه پورې ترقي او پرمختګ وکړ، علمي کتابونه دبانديو ژبوڅخه په عربي ترجمه شول ، تاريخ ليکونکو ، تاليف کوونکو او جغرافيه ليکونکو دمعلوماتو راټولولو او دپوهې دډېر و لولپاره د يون او سفرکړاوونه په ځان وګالل او ډېر جغرافيايي کشفيات يې وکړل . په لويو ښارونو کې کتابتونونه او پوهنتونونه جوړ شول ، عالمانو اديبانو او دپوهې خاوندانو دعلم او پوهې په ښودنه کې ډېر کوښښونه وکړل. عربي ژبه دټولې آسيا اوافريقا په اسلامي مفتوحه هېوادونو کې رواج شوه او عمو ميت يې پيدا کړ. په طب ، رياضي او نورو علوموکې لوي استادان منځ ته راغلل.

بغداد دعباسيانو پلازمېنې په ټولو ښارونو باندې امتياز درلود . دملك په هرګوټ کې لارې ، کاروان سرايونه ، جوماتونه او روغتونونه جوړشول ، په دمشق کې دټوکرانو داوبدلو کارخانې

جوړې شوې ، دمالګې ، سرپو، ګوګړو ، اوسپنې او نورکانونه وایستل شول.

په بغداد سربیره بصره ، کوفه ، مصر ، قیروان ، نیشاپور، بخارا ، مرو، رې او داسې نور ځایونه هم دعلم اوادب لوی مرکزونه و.

# ملکي حکومت او عسکري نظام

دعباسیانو دحکومت نظام هغه وچې دامویانو په وخت کې یې رواج درلود ، فقط ځانګې زیاتې شوې وې تر څو کارونه په ښه ترتیب سره سرته ورسېږي. عباسیانو به دامویانو په شان خپل ځای ناستی په خپل ژوندانه کې ټاکه اوله عوامو څخه به یې ورته بیعت اخیسته. چې دسلطان له مړینې څخه وروسته دا کار تر سره کېده.

**مرکزي نظام** : دامویانو په شان دعباسیانو حکومت هم شخصي و ،د شورا مجلس موجود نه و. سلطان دخپل کاردآسانتیا لپاره کارونه وزارت ته سپارل. له ټولو څخه اعتمادي سړی به یې خپل وزیر مقرراوه ، او ټول واکونه به یې ورته سپارل. دحاکمانو مقرري او معزولي ، دبیت المال څارنه او د مرکز ټولې څانګې به د وزیر تر څارنې لاندې وې او دلیک څانګه به مستقیماً دوزیر ترنګرانۍ لاندې وه. په لومړي سر کې یو وزیرو. لیکن وروسته یې دمحکمې لپاره جلا وزیر وټاکه اوبیا دټولوڅخه لوی وزیر ته یې دوزیراعلی یا امیر الامراء لقب ورکړ.

دوزارت څخه وروسته دحجابت دنده ډېره مهمه وه دحجابت لفظی معنـي د دروازې ساتـونکی ده لـيکن دا بـه داسـې د ډاډ وړ کـسان غوره کېدل چې خليفه به ورڅخه په چارو کې مشوره هم اخيسته.

## مرکزي شعبات او څانګې:

۱ـ دخراج دفتر: ددې محکمې دنده دبيت المال عايدات اومصارف ثبتول وو.

۲ـ د رسائلو يا کتابت دفتر: شاهي فرمانونه ، سياسي تړونونه او پادچاهانو ته دليکونو ځوابونه دهمدې څانګې دنده شمېرل کېده.

۳ـ دتوقيع دفتر: ددې محکمې دنده دخليفه په نامه راغلي وړانديزونه اودهغو دځوابونو انتظام و.

۴ـ دپوستې دفتر : دشاهي پوستې لېږل او دهغو پاملرنه ددې شعبې دنده شميرل کېده .

۵ـ دشاهي املاکو دفتر : دې محکمې دشاهي املاکو دتنظيمو لو او برابرو لو دنده په غاړه درلوده .

۶ـ دشاهي پوليسو دفتر : دشاهي پوليسو انتظام دې محکمې ته سپارل شوی و.

۷ـ دبخشـشونودفتر: دسـرکاري بخشـشو نوحـساب او تنظـيم ددې محکمې په غاړه و.

۸ـ دذميـانو دفتـر: دغيـر مـسلمانو دحقوقـو دسـاتنـې دنـده دې محکمې ته سپارل شوې وه.

۹ـ ديوان العـرض يادنظـامي امـورو دفتـر: دې محکمـې لـه پـوځ سره تعلق درلود. داسلحې دجوړولوفابريکې هم دهمدې شعبې ترنظـارت لاندې وې.

۱۰ـ دبنـدونو او ويـالو دفتـر: ددې څـانگې دنـده دنهرونوآبـادول او دهغو بندوبست کول و.

۱۱ـ ولايتـي نظـام : عباسـيانو خپـل ټـول سـلطنت پـه (۱۳) ايـالتونو تقسيم کړی و.

۱۲ـ دانـصاف محکمـه : دعباسـيانو پـه وخت کې دعـدل او انـصاف ډېرښه او معقول انتظام و. دامير اوغريـب لپـاره لازمـه وه چـې بې لـه کومه امتيازه د احکامو تعميل وکړي.

پـه هرښـارکې بـه قاضـي موجـودو. دښـار اړونـده کليـاوقـصبو کـې بـه دقاضي نائب مقرريده چې دعـادل پـه نامـه سره بـه يادېده .دبغـداد قاضي ته به قاضي القضات ويل کېده.

۱۳ـ پوځي نظام : دعباسیانو دوره کې اسلامی فوځ دشمېر او سازو سامان له پلوه ددنیا دبهترینو پوځونوڅخه شمیرل کیده. دوه قسمه فوځ یې درلود:

۱ـ باقاعده پوځ ۲ـ رضاکار پوځ

باقاعده فوځ ته به تنخواه ورکول کېده اوټول کال به په پوځي تانو کې او سېدل . او رضا کارو به تنخواه نه اخیستله ، بلکې جهاد به یې خپله فرضي مذهبي دنده ګڼله . دجګړې په دوران کې دهغوی خوراك او وسله د حکومت له خوابرابرېده . دلسو عسکر و افسرته به یې عارف او دسلوعسکرو یا لسو عارفانوته به یې نقیب مقرراوه او د(۱۰۰۰) عسکر و افسرته به یې قائد ویل اولس قائد به د یو جرنیل دقوماندی لاندې وو.

## دبحري بیړیو پراختیا

دعباسیانوپه دوره کې دقبرس او سیسلي جزیر وفتحې دبحري بیړ یوپه واسطه سرته ورسېدی. درومیانو په مقابل کې به یې هم له بحري فوځ څخه کار اخیسته .

### دجاسوسۍ محکمه:

دوالیانو دکنترول اود رعیت دحالاتودمعلوملو په خاطر عباسي خلیفه ګانو دجاسوسۍ لویه او منظمه شعبه پرانیستله چې په خفیه ډول به یې ټول حالات راټولول او مکمل راپور به یې خلیفه ته رساوه.

### داحتساب محکمه:

ددې محکمې دنده دا وه چې د هر ډول فحاشۍ او په سوادګریزو معاملو کې دفریب کارانو مخه ونیسي.

## مذهب اوعلم

کله چې داسلامي حکومت بنسټ ټینګ شوپه اوله مرحله کې تعلیم دلیك په واسطه نه وو. دبني امیه و په وروستیو وختونوکې دکتابونو دلیکلوکار پیل شو. خود تألیف او تصنیف کار دعباسیانو په دوره کې په پوره زوراو زوږ سره پرمخ ولاړ. اسلامي علما وولـه ټولو څخه لومړی ددیني علوموخوا ته پاملرنه وکړه. دقرآن مجید تفسیرونه یې ولیکل ، دحضرت محمدﷺ احادیث یې ټول کړل ، بیایې فقهی کتابونه ولیکل ، دتفسیر ، حدیث اوفقهي علومو څخه برسیره په تاریخ ، ادب اوشاعرۍ باندې هم کتابونه ولیکل شول او په آخرکې

فلسفه، هیئت، ریاضي، طب او داسې نورو په باره کې دکتابونو دلیکلو کارپیل شو.

داسلامي فقهي یا اسلامي قانون تدوین او مستند و احادیثو ترتیب او تالیف دعباسي دورې لویه علمي کارنامه ده . دعباسیانوپه دوره کې هغو علماؤ چې داسلامي فقهې دتدوین اوترتیب په برخه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړي. په خلص ډول په لاندې ډول معرفي کیږي:

## امام ابوحنیفه (رحمة الله علیه)

## له (۸۰ تر ۱۵۰ هـ ق)کاله پورې

نعمان بن ثابت چې دامام ابوحنیفه (رح) په نامه مشهور شوی، اصلي او پلرنی وطن یې افغانستان او دکوفی اوسېدونکی وو او سوادګري یې کوله. زیات علوم یې له حماد بن ابی سلیمان څخه زده کړل. هغه چې کوم فقهي قوانین مرتب کړل هغه دحنفي فقهې په نامه سره شهرت لري.

امام ابوحنیفه (رح) دډیرو ښو اخلاقو خاوندو. د دولت او دارایي خاوند هم و. هغه له خپل دولت څخه له شاګردانو سره مرسته کوله لکه چې دده یو شاګرد محمد ډیر غریب و له امام اعظم(رح) څخه به

يې علم زده کاوه، يو ځل دهغه پلارراغی او محمد يې کورته بوت او ورته يې وويل :

امام ابوحنيفه خومالدار دی هغه هر وخت درس ويلای شي ليکن ته غريب يې که چيرې ته ټول وخت په درس ويلو مصرف کړې نوزموږ دژوند ګوزاره به په څه شي باندې وي.

دپلار ددې هدايت څخه وروسته ځو ورځې محمد درس پريښود کله چې درس ته ورغی امام صاحب دغير حاضری او ناسوبتيا لامل پوښتنه ورڅخه وکړه . هغه ورته وويل: زه غريب يم . امام صاحب څه پيسې ورته ورکړې او ورته يې وويل: کله چې داپيسې خلاصې شوې بيا ماته ووايه . په دې ډول يې داستاذ په مرسته دومره علم حاصل کړچې دامام ابوحنيفه (رح) په شاګردانو کې دټولوڅخه مخکې شو او خلکو هغه دامام محمد(رح) په نامه سره يادکړ.

دحنفي فقهې دخپرولو په برخه کې دټولو نه زيات دوو شاګردانو برخه واخيستته ، چې يو يې قاضي ابويوسف صاحب اوبل يې امام محمد صاحب و. قاضی ابو يوسف صاحب دټولو څخه لومړی دحنفي فقهې کتابونه وليکل. څرنګه چې دی دعباسي حکمران هارون الرشيد دحکومت په ټوله زمانه کې قاضي القضات وځکه نو

حنفي فقهې زيات شهرت پيدا کړ. خو د حنفي فقهې بنسټ د امام محمد په تاليفاتو ولاړ دی.

عباسي حکمران منصور غوښتل چې امام اعظم صاحب د قاضي القضات دنده په غاړه واخلي، خو هغه د دې دندې له منلو څخه انکار وکړ. نو له دې کبله منصور دی په محبس کې بندي کړ، چې د منصور د ظلمونو له کبله په محبس کې په شهادت ورسېد. د مرګ په وخت کې يې وصيت وکړ چې ما د بغداد په هغې برخه کې ښخ نه کړئ کومه چې منصور د ښار جوړولو لپاره د خلکو څخه غصب کړې ده.

يو ځلې منصور له امام صاحب څخه پوښتنه وکړه چې ته زما تحفې ولې نه منې؟ هغه په ځواب کې ورته وويل: که چېرې ته د خپل مال څخه ماته څه د ډالۍ په ډول راکړې، نو حتماً به يې ومنم، خو تاسې يې ماته د مسلمانانو د بيت المال څخه راکوئ، په داسې حال کې چې زه فقير نه يم. د امام اعظم صاحب د انظر و چې د اسلامي جامعې د داخلي نظام د بهتر کولو لپاره بايد جدو جهد وشي او په دې لړۍ کې بايد دفاسد نظام په مقابل کې قيام وشي. د ده په نظر د ظالم امامت، نه يوازې د ا چې باطل دی، بلکې د هغه خلاف قيام

کـول هـم جـایز دی، پـه دې شـرط چـې د یـو بریـالۍ او ګټـور پـاڅون (انقلاب ) پـه مټ او واسطه فاسق لـه منځـه یوسـي او د هغـه پر ځـای صالح او عـادل حاکم منځته راولي.
د حنفي فقهـې پیـروان پـه ټولـو و اسـلامي ملکونـو کـې شـته، امـا پـه افغانستـان، پاکسـتان، هندوسـتان، ترکیه او چین کې زیات دي.

## امام مالك (رحمة الله علیه)

### له (۹۳نه تر۱۷۹ هـ ق)کاله پورې

د امام مالك د پلار نوم حضرت انس و. په خپل وخت کې یې لـه لویـو لویو علماوو لکه امام جعفر صادق(رح) او داسې نـورو څخـه حدیث او نور دیني علوم زده کړل. د علم د تحصیل لـه فارغېدو څخـه وروسـته یې پـه نبوي مسجد کې د تدریس کار پیـل کـړ او د وفـات کېـدو تـر وختـه پورې یې دې کار تـه ادامه ورکړه.
امام مالك (رح) د حدیثو یوه مجموعـه تیـاره کـړې وه چـې د هغـې نـوم (موطا) و. په اوس وخت کې چې د حدیثو څومره مجموعې دي موطا په هغو ټولو کې پخوانی کتـاب دی. امـام مالـك ډېـر لـوی دیانـت دار او په خپله زمانه کې په حدیثو کې تر ټولو علماوو څخه مخکې و.

يو ځل هارون الرشيد مديني ته راغی او له امام مالك څخه يې غوښتنه وکړه چې بايد زموږ ځای ته راشي او د موطا کتاب زما زامنو ته تدريس کړي خو امام مالك له تللو څخه انکار وکړ او ويې ويل چا سره چې د ويلو شوق وي هغه په خپله غواړي چې دلته راشي. هارون الرشيد خپل دواړه زامن مامون او امين امام صاحب ته راوستل هلته بې شمېره شاګردان موجود وو. سلطان چې دا وليدل نو ويې ويل: د اضعيفان جلا کړه. امام مالك (رح) وفرمايل: د دوو يا څلورو دفايدې لپاره ټولو شاګردانو ته نقصان نه شي رسېدای لکه چې هارون الرشيد او د هغه زامنو ټولو شاګردانو سره يو ځای لوستل پيل کړل.

کله چې د عباسي حکمران منصور په مقابل کې د محمد نفس الزکيه تحريك قيام وکړ نو امام مالك (رح) فتوىٰ ورکړه چې د محمد نفس الزکيه حمايت بايد وشي ځکه چې منصور د خپل حکومت لپاره جبري بيعت اخيستی و او جبري بيعت شرعاً جايز نه و. د ده د فتوی په سبب خلك د محمد نفس الزکيه سره يو ځای شول، لېکن هغه پخپل انقلاب کې مغلوب او په شهادت ورسېد. منصور د ده په فتوىٰ ورکولو سره په قهر شو او يا (۷۰) دُرې يې وواهه او د مديني د بازار په کوڅو کې يې د توهين په ډول وګرځاوه، خو هغه

پخپل قول ثابت پاتې شو او په دې سزا يې هېڅ پروا ونه کړه او د شريعت حکم يې په لوړ آواز خلکو ته ورساوه. د امام مالك (رح) تاليفات: موطا احکام القرآن، کتاب المناسك او تفسير القرآن دي. په شمالي او مغربي افريقا کې د امام مالك(رح) د فقهې ډېر زيات پيروان ليدل کېږي.

## امام شافعي (رحمة الله عليه)

### له (۱۵۰نه تر۲۰۴ه ق) کاله پورې

د امام مالك (رح) شاګرد محمد بن ادريس، چې د امام شافعي په نامه سره هم مشهور دی، د خپلې زمانې لوی عالم و.

د ده تاليفات کابو سلوکتابونو ته رسېږي، چې ډېر کتابونه يې اوس هم موجود دي. له مشهورو تاليفاتو څخه يې المسند، کتاب الام او داسې نور دي. امام شافعي(رح) له تحصيل څخه وروسته يمن ته لاړ. په يمن کې د اهل بيت ډېر حاميان موجود وو. د هارون الرشيد غوږونو ته خلکو دارسولې وه چې امام شافعي(رح) د اهل بيتو له طرفدارانو سره يو ځای شوی او د عباسيانو په خلاف تبليغات او پروپاګند کوي ځکه نو حکومتي مامورينو دې ونيوه او بغداد ته يې ولېږه، خو ډېر ژر يې برائت حاصل کړ او له محبس څخه راووت. د

حجاز، مصر، شام او مشرقي افريقي اکثر خلك د شافعي فقهې پیروان دي. په اسلامي نړۍ کې دحنفي فقهې څخه وروسته دشافعي فقهې پیروان زيات دي.

## امام احمد بن حنبل (رحمة الله علیه)

### له(۱٦٤ نه تر ۲۴۱ هـ ق) کاله پورې

په هغه زمانه کې څلورم لوی عالم دامام شافعی (رح) شاګرد امام احمد بن حنبل دی. امام احمد بن حنبل پخپله زمانه کې په حدیثو کې لوی عالم و. ده دمسند په نامه سره دحدیثو یولوی کتاب ولیکه چې کابو دڅلورو زرو حدیثو ټولګه وه.

دامام شافعي (رح) په شان امام احمد هم غریب و. دخلیفه معتصم په زمانه کې دمعتزله فرقې هرخوا فعالیتونه وو. امام احمد يې په دې جرم په درو وواهه اوپه زندان کې يې واچاوه چې هغه په دې اقرار نه کاوه چې قرآن مخلوق دی.

کله چې امام احمد په بغداد کې وفات شو، نو په جنازه کې (۸۰۰۰۰۰) اته لکو کسانو ګډون وکړ.

# امام جعفر صادق (رحمة الله علیه)

## له (۸۰ نه تر ۱۴۸ هـ ق) کاله پورې

امام جعفر صادق دامام محمد باقر (رح) زوی و. ده خپل ټول علوم له خپل پلار څخه زده کړل . امام اعظم ابوحنیفه (رح) او امام مالك (رح) دده له شاګردانو څخه وو.

یو ځل دحج په موسم کې یې دمسلمه بن عبدالملك په وړاندې په یوه فصیحه او بلیغه خطبه کې داهل بیتو ښه والي او دبنی امیه و ظلم او تېري ته اشاره وکړه. بیادی دهشام بن عبدالملك له خوا راوغوښتل شواو په دې باره کې یې ورڅخه پوښتنه وکړه . ده ټوله واقعه په عین شکل ورته بیان کړه.

په همدې ترتیب یوځل خلیفه منصور بغداد ته را وغوښت ، خو هغه ورته په واضح ډول ولیکل :

(کوم شخص چې له تاڅخه د دنیا طمع او توقع لري، هغه تاته صحیح نصیحت نشی کولای او کوم شخص چې دآخرت د ګټو غوښتونکی وي هغه ته ستاله لیدو کتو څخه کومه ګټه نشي رسیدلای)منصور ته چې داځواب ورسېد ، نو غلی پاته شو او هیڅ یې ونه ویل.

حضرت امام جعفر صادق (رح) دامامیه فرقې دلویو مجتهدینوله ټولګې څخه دی چې شیعه خپله فرقه ورته منسوبوي . دافرقه دجعفری مذهب په نامه یادیږي.

## امام محمد غزالی (رحمة الله علیه)

### له (۴۵۰نه تر ۵۰۵ هـ ق) کاله پورې

امام محمد غزالي (رح) دخراسان دطاهران په سیمه کې په (۴۵۰ هـ ق) کال کې پیدا شوی دی. دعلومو دسرته رسولو څخه وروسته په بغداد کې دنظام الملك طوسي نظامیه مدرسې مدیر مقرر شو . دعلم او کمال له کبله دسلطنت داراکینو په تولګه کې شمېرل کېده او دسلطنت ټولې چارې به دده دمشورې څخه پرته نه ترسره کېدلې .

دڅه مودې څخه وروسته دتصوف په خوا مایل شو ، جاه او جلال یې ترك کړل اونهایي ساده ژوند یې غوره کړ. په همدې وخت کې یې داحیا ء العلوم په نامه یو کتاب ولیکه چې دډېرو نادرو او اوچتو کتابونو له جملې څخه شمېرل کیږي. ده داشاعره وو په فلسفه کې ښکاره تبدیلي را وسته په دې ډول د اشعري مکتب او مفکوره یې دشرعي اصولو مطابق وګرځوله.

امام غزالی (رح) دحق په لټونه کې دټولو مذهبي فرقو تعلیمات په غور سره مطالعه کړل ، هغه پخپل کتاب (تهافة الفلاسفة) کې دفلاسفه ؤ دعقاید و او آندونو دعقلي ثبوت په ذریعې باندې زور ورکول ردکړل. په آخري عمر کې دهغه دانظر و چې په دین کې مناظره او تعصب حرام او ناجایزدی . دصوفیانو مسلك ته یې ترجیح ورکوله او بالاخره یې دصوفیانو مسلك غوره کړ. دخپلې زمانې په مروجه تعلیم اوتعلم کې یې د چلند له پلوه کافی تغیر او تحول راوست . همدارنګه هغه په دې خبرې قایل و چې دانسانیت دتکمیل لپاره داکتسابي علومو حاصلول کافی نه دي بلکې دحقیقي اخلاقو معرفت او پیژندنې په برخه کې دشیخ یا کامل پیر رهنمایي اختیارول اړین کار دی.

دعلم اوعمل دیوځای والی څخه انسان حقیقی مقام او پوړ ته ځان رسولای او هغه ترلاسه کولای شي.

اشاعره فرقې ته ځکه اشاعره وایي چې ددې فرقې بنسټ ایښودونکی ابوالحسن اشعري و. ابوالحسن اشعري دمعتزله فرقې سرسخت مخالف و.

# امام بخاری (رحمة الله علیه)

## له (۱۹۴ نه تر _ ۲۵۲ هـ) کاله پورې

دهغه وخت په محدثینو کې محمد بن اسماعیل چې دامام بخاری (رح) په نامه سره مشهور و، ډېر ممتاز دی . هغه دحضرت محمد ﷺ احادیث اود هغه دژوند واقعات په ډېر تحقیق او څېړنې سره په یوه کتاب کې ټول کړي چې دا کتاب د (بخاري) په نامه شهرت لري. ددې کتاب په لیکلو کې دامام بخاري (۳۰) کاله عمر تیر کړ دا دحدیثو نو دومره یو صحیح کتاب دی چې مسلمانان یې دقرآن کریم څخه وروسته ددنیا تر ټولو کتابونو څخه صحیح کتاب بولي.

امام بخاری (رح) دهغه زمانې دلویو علماوو په څېر د سوداګرۍ کسب کاوه، هغه ډېر شتمن سړی خو ساده ژوند یې تېراوه او دخپلو پیسو څخه یې دنوروسره مرسته کوله .

# پوښتنې

۱_ له مامون څخه وروسته څوك په تخت کښیناست او په لومړیو وختوکې دچاله پاڅون سره مخامخ شو روښانه یې کړئ؟

۲_ دعباسیانو د دورې مهم کارونه بیان کړئ؟

۳_ دعباسیانو دحکومت نظام په لنډه توګه په ۷ کرښو ولیکئ؟

۴_دانصاف محکمه څرنګه وه اوقاضی القضاة دکوم ځای قاضي و؟

۵_ دعباسیانو د پیر او دورې دتصنیف او تالیف په باره کې لنډ معلومات ورکړئ؟

۶_ دامام ابوحنیفه (رح) پلرنی وطن کوم ځای دی او دده مرتب شوي قوانین په کوم نوم سره یادیږي؟

۷_ دامام مالك (رح) داحادیثو ټولګه په کوم نامه سره یادیږي روښانه یې کړئ؟

۸_ دامام شافعي (رح) اصلي نوم څه دی، او څومره کتابونه یې تالیف کړي دي ، څرګند یې کړي؟

۹_ امام حنبل (رح) په کوم نوم داحادیثو کتاب مرتب کړی دی او څومره احادیث یې پکې ځای کړی دی ، واضح یې کړئ؟

۱۰_ دامام بخاري (رح) نوم څه دی او په څو کلونوکې یې بخاري شریف ترتیب کړی دی ، واضح یې کړئ؟

# دویم څپرکی

## په اسلامي نړۍ کې خانخاني

## د وړو او لویو نیمه خپلواکو سلطنتونو منځ ته راتلل

دعباسي پاچاهانو په زمانه کې دمنځني حکومت دکمزورۍ په سبب په ټولو اسلامي هیوادونو کې خانخاني پیل شوه. واړه اولوی خپلواک اونیمه خپلواک سلطنتونه منځ ته راغلل چې دهغو یادوونه په لاندې ډول کیږي:

## د ادریس حکومت په افریقا کې

دهادي په زمانه کې ادریس بن عبدالله بن حسن دافریقې په لور و تښتید. هلته دبربریانو قوم دده ښه هرکلی وکړ. ډېر لږوخت کې یې په شمال لویدیځه افریقا کې یو آزاد حکومت ټینګ کړ اوددې حکومت اساس اوبنسټ ادریسي کورنۍ کیښود.

## په هسپانيا کې آزاد اموي حکومت

عبدالرحمن بن معاويه بن هاشم چې داموي‌انودکورنۍ څخه و دعباسيانو دکورنۍ درامنځ ته کېدلوسره سم دعباسيانو څخه وتښتيد. هسپانيې ته يې ځان ورساوه او هلته يې ديوه آزاد اموي حکومت بنسټ کېښود . داموي‌انو او عباسيانو دمخالفت سره سره ځوسوه کاله داحکومت په هسپانيه کې ټينګ پاتې شو.

## دطاهريانو خود مختاره حکومت

**له (۲۰۵نه تر ۲۵۸ هـ ق ) اوله ( ۸۲۰ نه تر۸۷۲ ميلادی)کاله پورې**

ددې حکومت بنسټ دمامون الرشيد يو فوځي جرنيل طاهر بن حسين کيښود. دهارون الرشيد مړينې څخه وروسته کله چې دمامون او امين ترمنځ کورنۍ جګړې پيل شوې نودمامون دفوځ يوه برخه دطاهر ترمشرۍ لاندې دامين په مقابل کې په جګړه بوخته وه.

طاهر دمامون له خوا دخراسان والي مقرر شو خو دمقررۍ څخه يې دوه کاله وروسته خپله خپلواکي اعلان کړه.

خالد بن احمد دمامون صدراعظم طاهر ته زهر ورکړل او طاهر په همغه زهرو مړ شو. خودخراسان ولایت په خپلواک ډول په خپل حال دطاهر اولادې ته پاتې شو. دادولت دطاهریانو په نامه سره یادشو.ددې دولت مشهور حکمران عبدالله بن طاهر و چې دده پلازمینه دنیشاپور ښارو. داکورنۍ په (۲۵۸هـ ق) کې له منځه ولاړه.

## په طبرستان کې دعلوي یا زندیه حکومت

**له ( ۲۵۰نه تر ۳۱٦ هـ ق) کاله پورې**

دطبرستان او سیدونکي دخپل والي سلیمان څخه په تنګ شول. دحسن بن زید ترمشرۍ لاندې یې پاڅون وکړشاهي فوځونه دده دټکولوله پاره ولیږل شول خو حسن بن زید هغوی ته ماته ورکړه. په (۲۵۰ هـ) کال کې یې حکومت جوړکړ او شل کاله یې حکومت وکړ. حسن بن زید یو سخي ، عالم ، فاضل او غریب پالونکی حکمران و. دده دمړینې څخه وروسته محمد بن زید پرتخت کښیناست . اسماعیل ساماني ورباندې حمله وکړه ټپې شو اوماته یې وخوړه اوله یو څه مودې وروسته مړ شو. اسماعیل ساماني طبرستان باندې قبضه وکړه اوویې نیوه.

# په سيستان کې د صفاريانو دولت

**له (۲۵۴نه تر۲۹۰هـ ق)کاله او له (۸٦۷نه تر۹۰۳میلادی)کاله پورې**

يعقوب بن ليث دطاهريانو څخه دسجستان علاقه ونيوله بيايي په بلخ ، کرمان ، هرات ، ټول شمالي ايران او طبرستان باندې قبضه وکړه او دصفاريانو ددولت بنسټ يې کيښود. ديعقوب بن ليث په وخت کې دهيواد نظم او نسق ډيرښه و. اوخلکو په امن او امان سره ژوند کاوه.

ديعقوب د مړينې څخه وروسته دده ورور عمروبن ليث پرتخت کښيناست . دامير اسمعيل ساماني سره يې جنګ پيل کړ خو عمرو بن ليث ماته وخوړه او ووژل شو. ددې څخه وروسته دصفاريانو د دولت زوال پيل او په (۲۹۸هـ ق) کال کې ددوی دسلطنت دوره پای ته ورسيده.

# دسامانيانودحکومت رامنځ ته کيدل

(۲٦۱_۲۸۹هـ ق)

دمامون الرشيد په وخت کې احمد دفرغاني حاکم و. دده اولاد دسامانيه قومي سلطنت بنسټ کيښود . داحمد وړوکي زوی (اسمعيل ساماني) سلطنت ته ښه پراختيا ورکړه. دهغه په سلطنت

کې خراسان ، ترکستان ، سمرقند او دماوراءالنهر سیمې شاملې وې او بخارایې پلازمینه ټاکلې وه.

داسمعیل څخه وروسته دساماني کورنۍ اووه فرمانروایان تېر شوي چې مشهور یکې نصرثانې اونوح ثانې وو.

دسامانیانو وروستنی حاکم دویم عبدالملك دترکستان دحاکم ایلك خان په واسطه په (۹۹۹ع) کال کې ونیول شو اوپه دې ډول دسامانیانو دکورنۍ سلطنت له منځه ولاړ.

## دبنوحمدان حکومت له (۲۹۳نه تر۴۰۲ هـ ق) کاله پورې:

مکتفي په (۲۹۳ هـ ق)کال پورې دعربي قبیلې (بنوتغلب) یوسردار عبدالله بن حمدان دموصل حاکم مقرر کړ. په همدې ځای کې دبنوحمدان حکومت پیل کیږي : دبنو حمدان حکومت کې موصل ، دمشق او دحمص سیمې شاملې وې ـ دبنو حمدان وروستنی ټولواک سعدالله وچې دده دمړینې څخه وروسته دبنو حمدان لړۍ هم پای ته ورسیده.

# په مصر کې دفاطمیانو حکومت

**له (۲۹٦ نه تر ٥٦٧ هـ ق )کاله پورې**

عبیدالله بن میمون په (۹۰۹ ع )کال په مصر کې دفاطمیانو د دولت بنسټ کېښود. کابو څه کم درې سوه کاله دفاطمیانو حکومت دبغداد دعباسیانو رقیبان وو. سلطان صلاح الدین په (۱۲) می عیسوي پېړۍ کې مصر فتح او دفاطمیانو دحکومت لړۍ یې له منځه یوړه.

# دغزنویانو سلطنت

**له (۳٥۱ نه تر ٥۸۲ هـ ق) کال او له (۹٦۲ نه تر ۱۱۸٦م)کاله**

دساماني کورنۍ پاچاه عبدالملك یوسپهسالار (الپتګین) چې دښې روزنې او لیاقت په اساس دخراسان حاکم مقرر شوی و دعبدالملك د مړینې څخه وروسته په غزني کې دآزاد سلطنت بنسټ کېښود.

دوه ځلې ساماني پاچا په غزني باندې یرغل وکړ خو ناکام شو. بالاخره دبخاراپاچاه مجبور شو چې الپتګین دغزني د والي په صفت قبول کړي. الپتګین تر ۳۰ کلونو پورې پر غزني حکومت وکړ. دالپتګین څخه وروسته یې زوی ابواسحق دغزني پرتخت

کښیناست. دی دڅه مودې حکومت کولو څخه وروسته مړشو دده څخه وروسته د الپتګین دوه منصبدارانو امیر بلکاتګین او امیر پیری (تګین) یودبل پسې دغزنې پرتخت کښیناست. دامیر بلکاتګین څخه دترك امیران او دغزني خلك ډېر خوښ وو. اما امیر پیری (تګین) ډېر ظالم سړی و،په دې ترتیب سره څلور یا پنځه کاله وروسته دخلکو له خوا معزول او پرځای یې سبکتګین وټاکل شو. سبکتګین هرات او مکران ونیول ، دبخارا پاچا سبکتګین ته دناصرالدین لقب ورکړ. اود خراسان سیمه یې هم ده ته تسلیم کړه په هغو ورځو کې دپنجاب فرمانروا راجه جیپال و. سبکتګین هغه ته ماته ورکړه او دپېښور سیمه یې ونیوله . سبکتګین په (۹۹۷م) کې وفات شو.

## غزنوي سلطان محمود

### له (۳۸۹ نه تر ۴۲۱ هـ ) کاله پورې

دسبکتګین له مړینې وروسته دهغه له وصیت سره سم اسماعیل دسبکتګین کوچنی زوی پرتخت کښیناست. په دې وخت کې محمود دخراسان حاکم و.کله چې سلطان محمود دخپل پلار له مرګ او د وررله پاچاهۍ څخه خبرشو، له اسماعیل څخه یې وغوښتل چې

دحکومت څخه لاس واخلي اودغه چارې ده ته وسپاري،خو اسماعیل مخالفت وکړ. په پایله کې دلږ اخ اوډب نه وروسته اسماعیل دغزنې په شاو خواکې ماته وخوړه اوغزنی دمحمود لاس ته ورغی .محمود په ۹۹۸ م کې دغزني په تخت کښیناست . محمود دسیستان سیمه ونیوله او دبغداد دخلافت له خوا دده پاچاهي په رسمیت وپیژندل شوه او دیمین الدوله لقب ورکړل شو. موریې دزابلستان دخلکو څخه دیوه معروف سړي لور وه. محمود دځوانۍ او زلمیتوب په لومړیو وختو کې مروجه تعلیم اوزده کړه کړي وه. قرآن شریف یې یاد کړی و، دحدیثونو او شریعت سره آشناوو، په اداري اصولو کې یې دخپل پلارڅخه روزنه کړي وه، سلطان محمود د سلطنت په لومړیو وختوکې کورنی اړو دوړ غلی کړ او ځیني ځایونه یې چې خپلواك وو ترخپلی اداري لاندې راوستل . وروسته دافغانستان دپراخوالي په فکر کې شو. غوښتل یې چې هیواد هماغه خپل لرغونې پراخوالي ته ورسوي، نو سیستان ، غور ، خوارزم او اصفهان یې په خپل دولت پورې وتړل او بیایې وغوښتل چې خپل حکومت دهند په خاوره کې ټینګ کړي . په دې نیت یې(۱۷) ځله پر هند یرغل وروړ. دسلطان محمود لویه جګړه دسومنات جګړه ده چې په (۴۱۶ هـ ق) کال کې پیښه شوه . سلطان محمود اوریدلې ووچې دهندوانو لویه

بتخانه دسومنات په ښار کې ده . له دې امله محمود د درې سوه زره جنګي زلميانو سره دملتان او اجمير له لارې دراجپوتانې په وچو دښتو او ميرو وروخوت او پرسومنات يې يرغل وکړ. سره له دې چې دهند ټول را جه ګان ددغې بتخانې دساتلو له پاره راغونډ شوي وو، خوددغې خونړۍ جګړې په پای کې زيات شمير هندوان مړه او ووژل شول. او بې له تسليميدوڅخه يې چاره نه درلوده. محمود بتخانه ټوټې ټوټې او دخاوروسره برابره کړه . په دې بتخانه کې ډېرې قيمتي دانې او مرغلرې موجودې وې. دبغداد خلافت له دربار څخه په نوي سر ليک او عنوان باندې سفيران دبې شميره سوغاتونو سره دسلطان حضور ته راورسيدل او دسلطان محمود حکومت يې پرهند او خوارزم باندې په رسميت وپيژاند . کوم وخت چې سلطان محمود دسومنات په جګړه بوخت وو ايلك خانيانوددې فرصت څخه ګټه واخيسته او په بلخ يې يرغل وکړ. کله چې سلطان غزني ته راورسيدنو دايلك خانيانو په خلاف ووت او بلخ يې بيرته ونيو. د ترکو لښکريې دآمو هغې غاړې ته وشاړه . محمود دخپل سلطنت په وروستيو کلونو کې رې، اصفهان او دعراق ځينې برخې ونيولې . په هغو ورځو کې چې سلطان دلرې ملکونو په نيولو بوخت و، دترکو

یوې طایفې دسلجو قیانو په نامه ښه اقتدار او زور پیداکړی و خو د محمود ورته پام شو او دوی یې هم ځانته ایل کړل. بیایې په خراسان کې داوسیدلو اجازه ورکړه ، سلطان محمود په (۱۰۳۰م) کال په غزنی کې مړ شو.

سلطان محمود دآسیا دمشهور و فاتحانو له ډلې څخه و. لکه څنګه چې په فتوحاتو او بریوکې بې ساری و همدارنګه یې دمملکت په پرمختګ کې هم ساری نه درلود. دمملکت د ودانۍ له پاره یې ډیرې هڅې وکړې . دهغه په وخت کې علوم او فنون هسکو پوړیوته رسیدلې وو ، په غزنی کې یې لوی کتابتون اوموزیم جوړکړ ، جوماتونو، حمامونه ، مدرسي او ښونځی یې پرانیستل . ابوریحان البیروني ریاضی پوه او منجم دهمدې سلطان په دوره کې ژوند کاوه . غزنوي سلطنت دسلطان محمود څخه وروسته کابو (۱۵۰) کاله دوام وکړ او وروستنی پاچایې خسرو ملك وو.

# سلطان مسعود

دسلطان محمود لـه مړينې څخه وروستـه دهغـه كـوچنى زوى محمـد دپاچاهۍ پرتخت كښيناست. په دغه وخت كې مـسعود ، دسلطان بـل زوى په رې كې و.

دغزني زيات شمېر مشران دمحمد په پاچاهۍ خوښ نه وو. لـه دې امله يې مسعود غزني ته راوبالـه. مـسعود دپاچاهۍ دنيولـو لـه پـاره دغزني په لورې رارهي شو او ددواړو ورونـو تـرمنځ جګړه ونښتـه. پـه پايله كې مسعود دغزني دمشرانو په مرسته خپل وروړلېرې كړ او پـه خپله دسلطنت پر ګدۍ كښيناست . هغه هم دخپل پلار غوندې سخي ، زړور او پـه علـم او پـوهې بانـدې مـين سړى و او دپـلار كـړنلاره يـې پوره پوره تعقيبوله. بنارس دهندوانو سپيڅلى ښاريې ونيـو، كرمـان او همـدان يـې پـه خـپلې امپراطـورۍ پـورې وتـړل ، خولـه بـده مرغـه سـلجوقيانو هغـه پـه كـرار پـرې نښـود. هغـوى ورو ـ وروخپـل ځـان پياوړى كړ او تر مروې پورې مخكې راغلل. مسعود پـه هغـو بانـدې بريد وكړخوماته يې وكړه.په دې شان سلجوقيانو دغزنويانو څخه ډېر ملكونه لاس ته راوړل. ددې پيښې نه يـو كـال وروستـه مـسعود دخپـل ورور محمد د سړيو له لاسه ووژل شو.

ددې کورنۍ لسم پاچا بهرامشاه وچې ـ ( **۵۱۲** هـ ق ) څخه تر **۵۴۳** هـ ق کاله پورې یې پاچاهي وکړه . بهرام دابراهیم زوی او دمسعود لمسی و. بهرام یو عالم فاضل او دعالمانو فاضلانو قدردان و. دده زمانه دعلمي ترمختګ له پاره مشهوره ده ، ځکه چې په هغه وخت کې لوی شاعر سنایي هم ژوند کاوه . په پای کې دهند دغزنویانو دولت دسلطان غیاث الدین غوري په وسیله له منځه ولاړ.

## سلجوقیان

سلجوقیان په اصل کې دترکستان او خراسان اوسیدونکي وو.دعباسیانو دسلطنت دزوال په وختونو کې سلجوقیانو په خراسان او ترکستان باندې قبضه وکړه. دسلطان محمود غزنوي د مړینې څخه وروسته سلجوقیانو دطغرل بیک تر مشرۍ لاندې نیشاپور، عراق ، ارمینیا ، طبرستان اوداسې نورځایونه ونیول. بیا په **۱۰۵۵** م کال کې یې بغداد ونیو . د وخت حکمران القایم بامرالله خپل صدراعظم امیرالامراء اوسپه سالار طغرل بیک وټاکه . طغرل بیک ددرې کلونو په موده کې څو کلاوې له رومیانو څخه ونیولې. په (۱۰۶۳م) کال کې طغرل بیک مړ شو او دهغه پرځای الپ ارسلان سلطان او امیرالامرامقرر شو. هغه هم رومیانوته ماته ورکړه.

په ۱۰۷۳ م کال کې الپ ارسلان غوښتل چې په چین باندې یرغل وکړي ، خو دجیحون ددریاب څخه لاتیر شوی نه وچې وفات شو .
دالپ ارسلان څخه وروسته دده زوی ملك شاه پاچا شو. ملك شاه دماوراءالنهر ټولې سیمې ونیولې په دې وخت کې رومیانوهم ملك شاه ته خراج ورکاوه ملك شاه په ۱۰۹۳ م کال کې مړ شو. ملك شاه یو عالي منتظم و، دخلکو دهوسایۍ له پاره یې جوماتونه، پلونه ، ویالی او ښوونځی جوړ کړل دده د مړینې سره سم دسلجوقیانو زوال هم پیل کیږي.

# اتابکیه

د اتابك لغوي معنی پلار او امیر ته ویل کیږي. دنسل په لحاظ اتابکیه ټول ترك وو. دهغوی ځینو سردارانو حکومتونه هم رامنځ ته کړي وو، لکه دفارس اتابکیه ، دآذربائیجان اتابکیه ددمشق اتابکیه او داسې نور ،خو دهغوی په ټولو امراؤ کې دبنوزنګي کورنۍ ډېر شهرت درلود. ددې کورنۍ په حکومت کې دموصل ، حلب شام او جزیري سیمې شاملې وې .
عماد الدین په ۵۲۱ هـ کال کې دعراق او موصل حکومتونه لاس ته راوستل او دبنوزنګي کورنۍ دسلطنت بنسټ یې کېښود.

عماد الدين زنګي صليب پرستانو او د روم فوځونوته پرله پسې ماتې ورکړې . دعمادالدين څخه وروسته دده هېواد د دوه زامنو په منځ کې وويشل شو. دحلب ولايت دنورالدين محمود او موصل دسيف الدين په لاس کې پرېوت.

نورالدين محمود ځوځلې پرله پسې ځينې فوځونوته ماتې ورکړې. په هغه ورځو کې فاطمي دولت مخ په زوال و. نورالدين محمود دحالاتو برابرولوله پاره خپل يو سالار (شيرکوه) دمصر په لور ولېږه (شېرکوه) دخپلو جنګي کار نامو په پايله کې دمصر سرکش اميران ختم کړل. نورالدين محمود په ۵۶۹ هـ ق کې مړ شو. دی په خپله عالم و او دعالمانو قدر به يې هم کاوه. ده په دمشق کې يو دارالحديث هم جوړ کړی و . سربېره پرهغه يې مدرسې ، جوماتونه او روغتونونه هم جوړکړل. دساده ژوند په لرلو سربېره يې په عدل (نياو) اوانصاف سره دحکومت چارې پرمخ بيولې . دده له مړينې څخه وروسته دملك حال خراب شو. دداخلي اړودوړ په پايله کې صلاح الدين ايوبي شام باندې يرغل وکړ او دزنګي دکورنۍ خودمختاري يې په ۵۸۱ هـ کې پای ته ورسوله.

# غوریان

غورد هرات ، فراه ، قندهار او اوسني هزاره جات په منځ کې هغه علاقه وه چې په (۴۰۱ هـ ق) کال کې دسلطان محمود غزنوي له خوا ونیول شوه. غوریانو داسلام څخه وړاندې محلي حکومتونه درلودل. ځانګړی دود او رواج یې درلود. لکه چې سلطان محمود د غور سیمه ونیوله نو دغور دنامتو مشرانو څخه یې یو تن چې محمد نومېده بندي کړ. کوم وخت چې محمد مړشو . نو دغور حکومت یې دهغه زوی سلطان ابوعلي ته ورکړ . ددې وخت څخه وروسته غور په باندنیو چارو کې دپخوا په شان پوره خپلواکي درلوده دبهرامشاه ترزماني پورې همدغه شان خپلواك پاتی شو .

کله چې غزنویان کمزوري شول ، غوریانو ځان دطاقت خاوندان کړل او اقتدار یې لاس ته راوست ، خوسره له دې یې هم دغزنویانو ددولت سره اړیکې ښې وې.

قطب الدین محمدغوری چې دغزنوي بهرامشاه زوم و دخپلو ورونو له ویرې یې بهرامشاه ته پناه یوړه . بهرامشاه دده پوره درناوی او هرکلی وکړ ، خو کله چې دغزني خلك قطب الدین ته ډیر ورنږدې شول ، بهرام شاه پرې بد ګمانه شو او هغه یې په زهرو وواژه.

کله چې دا خبر دقطب الدین ورور سیف الدین سوري ته ورسید ، هغه په غزنې باندې یرغل وکړ. په(۵۴۳ هـ ق) کې یې بهرامشاه له غزني څخه هندته په تښتیه مجبور کړ. یو کال وروسته بهرام شاه په غزني برید وکړ. سیف الدین یې ونیو او هغه یې مړکړ ، په دې وخت کې علاؤ الدین حسین په ډېر شور او زوږ سره دخپل ورور دغچ داخیستلو له پاره په (۵۴۴هـ ق)کال کې غزني ته راغی . دده اوبهرامشاه ترمنځ یوه خونړۍ جګړه ونښته خو د بهرامشاه په ماتې تمامه شوه. بهرامشاه بیا هند ته وتښتېد. علاؤ الدین دغزني په خلکو دهیڅ رنګه تیري او زورڅخه ځان ونه ژغوره او اووه شپې اوورځې یې عام قتل وکړ او ښایسته غزنی یې چې دښارونو ناوې بلل کیده ټول وسوزاوه. له دې امله هغه ته دجهانسوز لقب ورکړشو . (۵۵۰هـ ق) کال کې علاء الدین دغزني دسوزولو څخه وروسته په سلطان سنجر سلجوقي یرغل وکړ خوماته یې وخوړه او ونیول شو. څه موده وروسته بیا سنجر خوشې کړ او دغورحکومت ته یې ولېږه.

علاؤ الدین دکورني اړودوړ له غلي کولو څخه وروسته په سیستان ، بست او هرات باندې برید وکړ او په ۵۵۶ هـ کې مړشو.

دعلاؤ الدین څخه وروسته سلطان سیف الدین محمد په تخت کښیناست خو په دې وخت کې دغزني ترکانو ډېراقتدار موندلی

و.سیف الدین دهغوی سره جګړه وکړه خود خپلو سردارانو دخیانت له کبله ووژل شو .

## سلطان غیاث الدین

دسیف الدین له مړینې څخه وروسته دغور مشرانو دهغه دتره زوی غیاث الدین دپاچاهی په تخت کښیناوه . غیاث الدین ددغې کورنۍ له لویو پاچاهانو څخه دی . ده لومړی دغزني ترکانو ته چې دغزني دوروستیو پاچاهانو په زمانه کې ترغزني او کابل رارسیدلې وو، سخته ماته ورکړه او غزنی یې دهغو څخه ونیو بیایې دهرات په خوامخه وکړه او هرات یې دسنجر دحاکمانو څخه لاس ته راوست ، سربېره پردې یې سیستان ، کرمان ، میمنه اوپنجده ونیول .

غیاث الدین دغوریانو له سلطنت څخه لویه امپراطوري جوړه کړه اودسترو تولنیزو خدمتونو څخه وروسته په کال (**۵۹۹**) هجري کې په هرات کې مړشو. شهاب الدین غوري دهغه وروړچې په معزالدین ملقب و، دهغه له مرګ څخه وروسته په تخت کښیناست .

# سلطان شهاب الدین

شهاب الدین دخپل وروره په وخت کې دلښکر مشرو، اودغیاث الدین دوخت ډېرې بریاوې دهغه په وسیله سرته رسیدلې وې. دسلطان محمود په زمانه کې داسلام دین په هند کې خپور شوی و خو دغور ددې لوی شخصیت په واسطه دهغه نور ډېر ښارونه هم داسلام په پاك دین مشرف شول . دهند نیول شوي ملکونه یې خپل منصبدار قطب الدین ایبك ته ورکړل او خپله دخوارزم شاهیانو څخه دخپل دولت دساتنې له پاره دخپل سلطنت مرکز ته راغی .

دده په زمانه کې دغوریانو پاچاهي دشمال له خواترخوارزم او ماوراءالنهر او په هند کې دهند په لویو برخو کې جاري وه. دالوی پاچاچې په (۶۰۲) هجري کال کې داباسین په غاړه دهند داړودوړ دکرارولوله پاره هغې خواته روان شوی و، دیوه ناپیژندل شوي سړي له خوا ووژل شو. بیا محمود دغیاث الدین وراره په غورکې پاچاشو، خودا وخت دغور د دولت چارې ویجاړې شوې وې. ځکه نودالویه امپراطوري په دوو برخوویشله شوه چې یوه برخه یې په هندکې دقطب الدین ایبك اوبله برخه یې دغور په مرکز کې دامیر محمود تر اداري لاندې راغله . څرنګه چې داسړی ډېر عیاش اولټ و له دې

کبله يې ځواک کمزوری شو، اوخوارزم شاهيانوورو وروپه تيري پيل وکړ چې په پای کې داتسيزبن علاؤ الدين په زمانه په (۶۱۲ هـ ق) کې سلطان محمد خوارزم شاه غزنی او غور ونيول او دغوريانو لړۍ ته يې د پای ټکی کيښود.

## خوارزم شاهان

### له (۴۹۰ نه تر ٦٢٨ هـ ق) کاله پورې

دخوارزم شاهانو دکورنۍ لومړی سړی دغرجستان له خلکو څخه وچې انوشتګين نوميده او دسلطان ملك شاه سلجوقي د دربارله مامورينو څخه و، او دخپلې پوهې اولياقت له کبله دملك شاه سلجوقي په زمانه کې يې زوی قطب الدين محمد دسلطان سنجرسلجوقي له خوا د خوارزم په حکومت وټاکل شو.هغه په خپل دېرش کلن حکومت کې دسنجر سره ډېرې ښې اړيکې درلودې. دقطب الدين محمد له مړينې وروسته چې دخوارزم شاه په نامه ياديده دهغه زوی اتسيز دخوارزم حاکم شو. ده په خپلو مغزوکې لوی خيال درلود اوپه (**۵۳۵**) هجري قمري کال کې يې دخپلواکۍ اعلان وکړچې له امله يې ددواړو خواؤ ترمنځ جګړه ونښته. سنجر په ماوراءالنهر راوخوت او په پايله کې يې اتسيز مغلوب او دسنجر په

لاس بندي شو . داتسیز څخه وروسته دهغه زوی ایل ارسلان پرتخت کښیناست هغه سلطان سنجر ته د روغې له لارې رامخکې شو . له ایل ارسلان څخه دوه زامن یو تکش اوبل سلطان شاه پاتې شول چې لومړی سلطان شاه په تخت کښیناست خومشرورور(تکش) یې دهغه حکم ونه مانه ، په سرزوری یې لاس پورې کړ او ډېره موده له خپل وروروسره په اخ او ډب بوخت ووتردې چې تکش له شلو کلونو وروسته دسلطان شاه په مړینې سره له دې کړاوونو څخه خلاص شو. علاؤ الدین تکش ددې کورنۍ له نامتو پاچاهانو څخه دی. لومړی یې مرو، طوس اوسرخس چې سلطان شاه نیولی و له خوارزم سره وتړل او بیایې په بخارا برید وکړ. دسلجوقیانو پاچا دریم طغرل سره وجنګېد ، هغه ته یې ماتې ورکړه او ویې واژه . دسلجوقیانو لړۍ یې له منځه یوړه ، داصفهان او همدان په لوري ستون شو . داځایونه یې ونیول دعباسیانو پاچا دهغه سره دمخالفت او دښمنۍ له لارې راوړاندې شو، خوتکش هغه له ماتې سره مخامخ کړاو تربغداد پورې وړاندې ولاړ. دعباسیانو خلیفه ناصر له وېرې څخه عذر وړاندې کړ.

تکش نه یوازې دسیاست له نظره لوی سړی و، بلکې دعلم او پوهې له خوا یې هم لوړ مقام درلود اوډېر خدمتونه یې وکړل ، دهغه له

مړینې څخه وروسته قطب الدین محمد دهغه زوی دپلار په ځای کښیناست . لومړی دخپل وراره دمخالفت سره چې غوښتل یې وروسته له تکش څخه پاچا شی مخامخ شو، خو دېر ژر قطب الدین پرهغه باندې غالب شو او وراره یې شهاب الدین غوري ته پناه وروړه . دغور پاچاهان چې د مناسب وخت په لټون کې وو ، په خوارزم یرغل وکړ خو قطب الدین هغوی مغلوب کړل . فیروزکوه ، هرات او غزنی یې له غور یانو څخه ونیول . ده هم دپلار غوندې دملك په پراخولو کې ډېرزیار وایست . په ختیځ کې غوری دولت او دفارس او آزربایجان د اتابکانو کوچني دولتونه یې یوپه بل پسې ونیول . ده غوښتل چې په بغداد کې دبني عباس امپراطوري له پښو وغورځوي او پخپله داسلام یوائینی لوی امپراطور شي . ددې مطلب په غرض یې په (۶۱۵ هـ ق) کالکې خپل لښکر ته دبغداد په لور دروانېدوامر ورکړ اوپه خپله هم دعراق په لور روان شو . دهمدان شا اواخواته چې ورسید په خپل هېواد یې دچنګېزیانو دحملې خبر ورورسېد .

چنګېزیان چې دمحمد خوارزم شاه ښه نږدې ګاونډیان وو، لومړی یې هیله لرله چې دخوارزم شاه سره ډېر ښه روابط پیدا کړي ، خو

قطب الدین محمد لویه سهوه وکړه چې د کبر اولویي له مخې یې دچنګېز استازي ورته اومره یې کړل او د دوستۍ خیال یې په دښمني بدل شو. دچنګېز جذبات راوپارېدل ، دډېر لښکر سره یې په ماوراء النهر یرغل وکړ . محمد خوارزم شاه چې دمقابلې توان نه درلود ، مازندران ته وتښتېد. چنګېز هغه پرمخه کړ ، اودهغه ځای څخه هم وتښتېد او د(آبسکون) ټاپوته ولاړ . چنګېز ټولې ودانۍ ورانې کړې او ډېر خلك یې ووژل . محمد خوارزم شاه له ډېرغم او خپګان څخه په همغه ټاپو (جزیره) کې ساه ورکړه . ده څلور زامن درلودل چې مشرزوی یې جلال الدین دخپل پلارپه زمانه کې دغزني نائب الحکومه وو .د خپل پلار دوصیت سره سم یې دچارو واګې په لاس کې ونیولې.

جلال الدین ډېر زړور سړی و.دچنګېز یانو په مقابل کې یې دجګړې ډګرته ورودانګل خو د ځانځانۍ او بې اتفاقۍ له امله جلال الدین په بامیانوکې ماتې وکړه اوچنګیز دخپل یوه لمسي د وژل کېدو له کبله دغلغلې ښارله خاورو سره برابر کړ.

دچنګېز او جلال الدین جګړې دسندتررودپورې ورسېدې. جلال الدین د دووکلونوسرګردانۍ څخه وروسته بیا افغانستان ته

راغـی . هـرات ، آذربایجـان او ګرجستان یـې لـه مغلـو څخـه ونیـول . خوپه ۶۲۸ هـ ق کال کې دیـو کردستانی لـه لاسـه ووژل شـو ، اودهغـه په مړینه دخوارزم شاهانو نوم له منځه ووت.

## دایوبیه حکومت

**له (٥٦٤ نه تر ٦٥٧ هـ ) کاله او (١١٧١ نه تر ١٢٥٠م) کاله پورې**

ددې سلطنت بنسټ سلطان صلاح الدین دمصر دنیولو څخـه وروستـه په **۵۶۴** هـ ق کال کې کیښود اوهغـه یـې خپـل پلار نجم الـدین ایـوب ته منسوب کړ . په ایـو بیـه دولـت کـې مـصر ، شـام او شـاوخواسـیمې شـاملې وې. دنـسل لـه پلوه نجـم الـدین کـردي و. دده پـلار ( شـاذی ) دآذربایجان دولایت دکر دانو سردارو.

صلاح الدین دنورالدین زنګي ملازمت غوره کړ. دی دخپل لیاقت او استعداد پـه اسـاس مخکښـې و لاړ او دمـصر دفـاطمي خلیفـه وزیـر مقررشـو. آخـر پـه (**۵۶۴** هــ ق) کـال کـې صـلاح الـدین دفاطمیـانو حکومت له منځه یوړو او دایوبیه دولت اساس اوبنسټ یې کېښود.

صلاح الدین پرله پسي صلیبیانو ته مـاتې ورکـړې. دده دمړینې څخـه وروسته (۱۴) پاچاهان دده په کورنۍ کې تېر شول، خو یوه هم دده په شان کارنامې ونکړې . د ایوبی دولـت آخرنی پاچا سلطان موسی

الملك الاشرف وچې خلکو دنااهل توب له کبله معزول کړ. په دې توګه دايوبيانو دولت له منځه ولاړ.

## پوښتنې

۱ـ طاهر دخپل ملي حکومت بنياد څنګه کېښود او په څه توګه يې په خراسان کې خپلواکه حکومت جوړکړ؟

۲ـ دصفاريانو دلړۍ بنسټ ايښودونکي څوك و، څرنګه يې دخپلې کورنۍ بنسټ کېښود اوکوم کارونه يې وکړل؟

۳ـعمرو ليث صفاری له چا وروسته دسلطنت خاوندشو؟

۴ـ دسامانيانو دکورنۍ لوی او نامتو پاچا څوك و؟

۵ـ دخوارزم شاهانو لړۍ څرنګه اوپه کوم ځای کې منځ ته راغله ، ددې کورنۍ نامتو پاچاهان او دهغوی فتوحات بيان کړئ؟ په دې هکله ۲ کرښې وليکئ.

۶ـ دغوري کورنۍ وروستی پاچا څوك و، څرنګه اودچاپه وسيله له پښو وغورځېده ، بيان يې کړئ؟

۷ـ دغزنويانو دکورنۍ بنسټ څوك وو ، هغه څنګه او په کوم ځای کې دخپل سلطنت بنسټ کېښود؟

۸ـ سلطان محمود په چاپسې سلطنت ته ورسېد؟

۹ـ سلطان محمود څوپلاپه هند يرغل اوبريد وکړ اودهغه لويه جګړه کومه يوه ده ؟

۱۰ـ علاوالدين حسين څوځله په غزني بريد وکړ؟

# دریم څپرکی

## په افغانستان کې دمغلو یرغلونه

### چنګیزاو دهغه ځای ناستي کسان:

مغل یو وحشي او صحرایی قوم و، چې دګوبی په صحرا کې یې ډېر کلونه بې نومه او بې نښانه ژوند کاوه.

ددې قوم تاریخ دچنګېز دراپیدا کېدو سره پیل کېږی.

دچنګېز اصلي نوم تموچین دی، پلاریې یوسکای نومیده، په ۱۱۶۷ ع او ( **۵۶۳**هـ ق)کال کې دامو روود برې درې په ښی غاړه کې زېږېدلي دی. دچنګېز لقب یې چې دجنګیالی په معنی دی ، ځانته غوره کړ.

ده لاهغه وخت چې زلمی و، خپل زړورتوب اوناریتوب خپل قوم ته ښودلی و شاوخواتیتې اوخپرې قبیلې یې ځان ته تابع کړې وې، او په **۵۹۸** هجری کال کې په تخت کښیناست.

چنګېز په قراقرم کې خپل پلازمینه جوړه کړه او دخپل سلطنت په لومړیو کلونو کې یې شمالي چین ترپیکنګ پورې اوسایبریایې تر

روسي ترکستان پورې ونیول . په دې وخت کې چې دمغلو حکومت مخ په پیا وړتوب او پراخېد و، په منځنۍ آسیاکې راز راز اختلافونه موجود وو چې په پای کې همدغه اختلافونه د منځنۍ آسیا د دولتونو دکمزوري کېدو لامل شول ، ځکه یې ونشو کړای چې دچنګیز د یرغلونومخه ونیسي. له دې امله دآسیایي ملکونوزیاته برخه دچنګېز ترادارې لاندې راغله.

دمنځنۍ آسیا دلویو اوزور ورو دولتونو څخه یو د خوارزمشاهانو دولت و.ددې دولت مشرمحمد خوارزم شاه و. ده دخپل دولت دشاوخواملکونو ډېرې برخې ونیولې ، په دې وخت کې دافغانستان او شمالي هند ځینې برخې دغورد پاچاهانو په قبضه او ګرت کې وې، خومحمد خوارزمشاه دډېرکبر اولویي له مخې پخپل څنګ کې دیو بل لوی دولت اقتدار نشوزغملی ، نو کله چې شهاب الدین غوري دهند په فتوحاتو بوخت و فرصت یې غنیمت وګاڼه او په غوریانو یې برید وکړ افغانستان یې دغوریانو له منګولو څخه خلاص کړ.

چنګېز چې دخوارزم شاه په قوت او طاقت پوه و،هیله یې لرله چې ددې ګاونډې دولت سره سیاسي اوتجارتي اړیکې ولري.

محمد خوارزم شاه هم خپل استازي دچین په لوري ولیږل چې دمغلود خان له خوا یې ډیر تود هرکلی وشو، دمغلوخان هیله درلوده ، چې دواړه خواوې خپل مالونه په آزاده توګه دیو او بل په ملکونوکې خرڅ کړي ځکه یې خپل استازي دډیرو سوغاتونو سره دخوارزم شاه دربارته ولیږل ، خوخوارزم شاه بې فکري وکړه او دلویې سهوي مرتکب شو، ځکه چې دمغلو هیئت یې لومړی سپك او وروسته په قتل ورساوه . له دې کبله دچنګیز دقهر اوکینې اور په لمبو شو او دیر غل تیاری یې ونیو. دخورا زیات لښکر سره مخ په خوارزم را وخوزید شو او خپل یرغل یې په( ۵۶۵ ) هجرې قمري کال کې پیل کړ. چنګیز له ټولو لومړی د(اترار) ښار ونیو او دبخارا په لورې وړاندې ولاړ ، بخارایې ډیره آسانه ونیوله اودومره تاوانونه یې ورواړول چې قلم یې دلیکلو توان نه لري . بیایې دسمرقند په خوامخ وګرځاوه په لارکې یې چې هرڅوك ولیدل ټول یې ووژل او هرځای ته چې ورسید وران یې کړ او څومره مال یې چې ولید لوټ یې کړ. په خوارزم شاه پسې یې سړي ولیږل. خوارزم شاه چې دمقابلې زور په ځان کې ونه لید لومړی افغانستان او بیا طوس ته ولاړ او

دهغه ځای نه عراق ته وتښتید. خو څرنګه چې مغل دهغه په لټه کی وو، ځکه نودی د(ابسکون) ټاپوته چې دخزر دجزایرو څخه دی ولاړ. چنګیز له دې کبله چې خوارزم شاه یې پیدا نه کړ، دهغه کور کهول اوکورنۍ یې ترتیغ تېر کړل. چنګیز دخوارزم له نیولو نه وروسته د آمو د سیند څخه تېر شو او بلخ ته راغی. میمنه، او اندخوی یې ونیول.

په دې وخت کې جلال الدین خوارزم شاه چې دپلار په ژوند دغزني حاکم و غوښتل چې دخپل پلار پور له چنګیز څخه واخلي، ځکه نو خلك یې دچنګیز دعسکرو په خلاف وپارول او په هرځای کې یې دچنګیزیانو په مقابل کې جګړې پیل کړې. په پروان کې چنګیزیانو ماتې وخوړه. بل جنګ په بامیانو کې وشو، چې دچنګیز لمسی دضحاك په ښارکې ووژل شو. خو د محمد دسردارانو دځان ځانۍ اوبې اتفاقۍ په وجه چنګیزیان غالب شول.

دوی جلال الدین دماتې سره مخامخ کړ. دغلغلې ښار یې وران اوعامه وژنه یې وکړه. جلال الدین مجبور شو چې داندس (سند) درود په لورې په شاولاړ شي، دمغولوعسکر په هغه پسې شول دسند درود په غاړه دواړو ترمنځ سخته جګړه ونښته. جلال الدین چې بله

چاره ونه لیده نو خپل ځان یې سیندته وغورځاوه اوپه آس باندې له رودڅخه تیر شو. دهغه ځای څخه ایران ته راغی اوددوهم ځل لپاره یې بیا دمغولو سره په جګړه پیل وکړ. ښه بری یې په برخه شو، خوپه (۶۲۸) هجري ق کال کې ناڅاپه په کردستان کې ووژل شو. کومې ورانۍ چې چنګېز په اسلامي نړۍ کې په عمومي توګه اوپه تیره زمونږ په ګران هیوادکې کړې دي دیو شمیر تاریخ لیکونکو په نظر او عقیدې به په زرو نوروکلونو کې هم دهغو ځای ونه نیول شي.
چنګېز له ډېرو وینو تویولو نه وروسته په ۶۲۴ هجري ق کال کې مړشو خودهغه اولاده په چېن کې د(اغتائیه) په مغولستان کې د(ټولونی) په فارس کې د(ایلکخانیانو) اوپه ماوراءالنهر اوافغانستان کې ، اوکتای ، چغتای اوجوجی .تولی دپلارله خواد هرات په نیولو مامور شو، دهغه ځای خلك دمغولوسره په ډېره مېړانه وجنګیدل ترهغې چې حاکم یې ووژل شو . او چنګېزیانو هرات له خاوروسره برابر کړ. قوبلای د تولی زوی ټول چین ونیو. هلاکو دقوبلای ورور د عراق اوفارس په نیولو مامور شوی وو، چې دعباسیانو خلافت یې له مینځه یوړ. چغتای دچنګېز بل زوی دپلار دمړینې وروسته په ماوراءالنهر ، بدخشان ، بلخ او غزنې حکومت کاوه ، چې دچغتای څخه وروسته دهغه اولادو نوکې ځان ځاني اوبې اتفاقی پیدا شوه. ترڅوچې دهغو وروستی حاکم تیموریې په ۷۷۱ هجري کې له پښو

وغورځاوه. اوکتای په قراقرم یاد چنګېز دامپراتورۍ په مرکز کې ځای ونیو . جوجي ، د اورال او خزر د بحیری شمالي خواوې او سهیلي روس ترلاسه کړ.

## تیموریان

په هغه وخت کې چې دچنګېزیانو لړۍ مخ په زوال شوه په ترکستان کې یو بل زورور بریالی فاتح پیدا شو، چې یوځل بیا دآسیا په ډېرو برخو وبلوسید او د چنګېز ورانې یې تکرار کړې اوله مسکو څخه یې ترډهلي او دچین له پولو څخه یې دمدیترانې ترحدودو پورې خاوره لاس ته راوستله .دغه سړی ګوډ تیمور و.

تیمور په ۷۳۶ هجري کال دکیش په ښاریا نني شهر سبز کې چې دآمو په شمالي خواکې پروت دی زیږیدلی اوپلار یې امیر تراغای نومیده ، چې دچغتایانو په دربار کې یې د وزارت چارې اجراء کولې . تیمور له کوچنې والې څخه زیارکښ ، کلك ، زړوراو د ټینګ هوډ خاوند و. دزلمیتوب په وخت کې دجنګیالیتوب او دلیاقت دښکاره کولو څخه وروسته دمغولستان دحاکم له خوادماوراءالنهر په حکومت مقرر شو. دهغې شخړې څخه وروسته چې دتیمور او امیر حسین دبلخ ترمنځ پیښه شوه امیر حسین دتیمور له لاسه ووژل شو.

تیمور دبُست دجګړو په یوې جګړې کې په ښنه ټپ وخوړ اوګوډ شو، چې له دې امله ګوډ تیمور ورته وایي. ده وروسته دامیرحسین د وژلوڅخه په ۷۷۱ هجري ق کال کې خپلواکه حکومت جوړکړ او سمرقند یې خپله پلازمینه وټاکه ، اوبیایې په یولړ بریو پیل وکړ.ټول خوارزم اوایران یې ونیو.

په عراق یې یرغل وکړ، اوله هغه ځایه روسیې ته ولاړ اوترمسکو پورې یې پرمختګ وکړ. عثماني ترکانوته یې په انقره کې ماته ورکړه اوسلطان بایزید عثماني یې بندي کړ. دکوچنیوامیرانو لړۍ یې په ترکیه کې جوړه کړه . په هندوستان کې ترډهلي پورې وړاندې ولاړ اوبیایې دچین دسفر تیاری ونیول خو مرګ وخت ورنه کړ، پخواله دې چې دچین په بري لاس پورې کړي په ۸۰۷ هجري ق کال کې داویاکالو په عمر د(اترار) په ښارکې مړشو. په خراسان باندې دتیمور حمله دډیرو ورانیو سبب شوه ځکه چې دافغانستان زړوراو وطن پالونکو خلکو پوره مقاومت او ټینګار وکړ، چې په پایله کې دمال اوځان تاوانونه ورواوښتل . دا د تیمور دود و چې په هره جګړه کې به یې بری وموند دهغه ځای دخلکو په عامه وژنه به یې لاس پورې کړ. ودانې او مدني آثار به یې وسوزول ده دخپل سلطنت په موده کې سره له دې چې پراخه امپراتوري یې جوړه کړې وه خود ډېرو

ورانیو او زیانونو په سبب چې نیول شویو ملکونو ته یې اړولي وو تاریخ کې یې ډېر بدنوم پرېښود. له نیکه مرغه دتیمور له مړینې څخه وروسته دده اولادونو دعدل نیاو او انصاف کمبله وغوړوله. دوی دخلکو دزړونو په ساتنه او خوښۍ بوخت شول. دخپل پلار ورانۍ یې بیرته جوړې اوترمیم کړې.

هرات یې پلازمینه کړ او دعلم اوپوهې ډیوه یې پکې بله کړه او دښکلو صنایعو ترقي او پرمختګ یې زیات کړه ، پوهان او قدرمن خلك یې ښه ونمانځل ځکه نودتیمور د اولادې دې نوې دورې ته په افغانستان کې دختیځ درنسانس دوره وایې .

## دتیمور اولاده:

تیمور څلور زامن درلودل چې دهغو څخه یې دوه تنه دتیمور په ژوند کې مړه شوي وو. دهغه زامن دادي:

۱_ غیاث الدین جهانګیر، ۲_ عمر شیخ میرزا ،۳_ جلال الدین میرانشاه ،۴_ شاهرخ میرزا

# شاهرخ میرزا

## (۸۰۷ _ ۸۵۰ هجری)

شاهرخ دخپل پلار په ژوند دخراسان او ایران لویه برخه اداره کوله او نږدې اتلس کاله دهرات نائب الحکومه وو. نوکله چې یې پلار مړ شو دسلطنت واګې یې په لاس کې ونیولې او دهرات ښاریې خپله پلازمینه وټاکه ، الغ بیګ یې دسمرقند په حکومت مقررکړ . که څه هم جنګیالی پاچا نه و، خوپه جګړو کې یې بری لاس ته ورغی. آرام او نرم طبیعت یې درلود ، غوښتل یې چې دولت یې کرار او وګړي یې خوښ او آرام وي. دهغه دسلطنت دوره په افغانستان کې دډیرلوی بر م له دوروڅخه ده ، دده په وخت کې دهرات تاریخي ښار په زړه پورې پرمختګ وکړ.

شاهرخ ، عادل او په علم او صنعت مین پاچا و. پوهان او فاضلان ورته ګران وو او دهغوی غم به یې خوړ. سوداګري اوتجارت ته یې پوره رونق ورکړ. باندني سوداګران دهنداو چین څخه راتلل دچین وریښم ، دهرات له لارې اروپا ته تلل . دصنعت ، ودانۍ ، انځور ګرۍ او داسې نورو لوی استادان ددی پاچا په وخت کې را میدان ته شول . ګوهر شادبیګم دشاهرخ ملکه چې دهرات له خلکو څخه وه له

پوهې او ادب سره يې زياته مينه درلوده او په خپل ميړه ډېره ګرانه وه. دې ملکې دپوهانو او عالمانو په روزنه کې زيار وکيښ ، دګوهر شاد په نامه يې يوه لويه مدرسه جوړه کړه . اومشهور عالمان يې هلته دتدريس او ښوونې له لپاره وټاکل ، لنډه داچې شاهرخ ميرزاله ۴۳ کلونو حکومت څخه وروسته په ۸۵۰ هجری کال کې د ۷۲ کلنۍ په عمر وفات شو. دشاهرخ څخه وروسته دهغه اولاده لکه الغ بيک ، ابوسعيد اونور پادشاهان شول خودهيواد چاروته يې څه پاملرنه ونکړه څوچې ددې کورنۍ يو بل لوي او مقتدر پاچا سلطان حسين ته واک راورسيد. دهغه په عصر کې دلاسه وتلې مدنيت بيرته راژوندی شو.

## سلطان حسين بايقراء

### له (۸۷۳ نه تر ۹۱۱ هـ ق ) کاله پورې

دتيمور يانو وروستی تکړه پاچا سلطان حسين بايقراء دی چې په ۸۴۲ هجري کال په هرات کې زيږيدلی دی. دی په يوويشت کلنۍ کې پاچا شو او دمرو، استرآباد او خراسان دځينو نورو برخوله نيولو څخه وروسته يې هرات دخپل حکومت مرکز وټاکه سلطان حسين دخپل پوه اونامتو وزير اميرعلي شير نوايي په مرسته دهيواد دلاس

څخه تللی مدنیت بیرته راژوندی کړ. اوکوم کارونه شاهرخ پیل کړی وو هغه یې سرته ورسول ، عالمان ، پوهان او دصنعت خاوندان یې بنه ونمانځل اولا یې وروزل (خطاطي ، رسامي ، انځور ګری ، شاعري کاشي جوړولو او دعلم او صنعت ټولو څانګو زیات پرمختك وکړ او دافغانستان دښکلو صنایعو نوې دوره خپلو هسکو پوړوته ورسیده. دهغې دورې آثار او ودانۍ دیادګار په توګه اوس هم شته . دمزار شریف زیارت په دغه دوره کې جوړشوی دی.

امیر علی شیر نوایي دزماني له لویو شخصیتونو څخه دی. ده دمملکت په آبادۍ کې زیار وایست ، ادبي او علمي ټولنې یې جوړې کړې ، ددې دورې نامتو شاعر مولوی جامي دی . بهزاد مشهور نقاش هم په همدې دوره کې ژوند کاوه. دتیموریانو په دوره کې تاریخ لیکلوهم قدر پیدا کړ. دتاریخ لوی کتابونه لکه روضة الصفاء اوحبیب السیر په دغه عصر کې ولیکل شول ، خو افسوس چې ددې پاچا له مړینې څخه وروسته دتیموریانو دمقتدر اوقوی دولت بخت په کوزیدو شو.

کله چې دغه سلطنت دسلطان حسین بې تجربې زامنوبدیع الزمان او مظفر حسین ته پاتې شو، دوی دتخت او تاج داخیستلو په خیال په

خپل منځ کې په اخ او ډب بوخت شول. د وروڼو دوو لویو غلیمانوچې لاپه خوایې ددې ملك نیولو ته دام ایښی و. محمد خان شیبانی او شاه اسماعیل صفوی نومیدل دسلطان حسین دزامنو له اخ اوډب څخه ګټه واخیسته. لومړی محمد خان شیباني په ۹۱۲ هـ ق کال کې په هرات یرغل وکړ ، دسلطان حسین زامن ورته تم نه شول او ایران ته وتښتیدل. په دې وخت کې شاه اسماعیل ته ښه وخت په لاس ورغی او دتیموریانودحقوقو اخیستلو په پلمه یې په خراسان برید وکړچې په پای کې محمد شیباني مړ او خراسان دصفویانو لاس ته ورغی. په همدې وخت کې دافغانستان په ختیځه برخه کې ظهیرالدین محمد بابر د وخت نه استفاده وکړه ،اوپه کابل کې یې دپاچاهی اعلان وکړاو په هند کې یې خپلو بریو ته دوام ورکړ، څوچې دهند دمغولو لړۍ یې منځ ته راوستله. دافغانستان خاوره دډېرې مودې له پاره دهند دمغولو، دایران دصفویانو او دماوراء النهر دازبکو په منځ کې وویشل شوه.

# پوښتنې

۱ـ چنګیز دکوم ځای واو څنګه مشهور شو ، کومې فتحې یې وکړي . او زموږ په ملك یې په کوم وخت یرغل وکړاو کومې خرابۍ او ورانۍ یې وکړې؟

۲ـ ګوډ تیمور دکومې کورنۍ څخه و، کوم وخت یې دخپل حکومت بنیاد کیښود او څرنګه یې په فتحو پیل وکړ په دې هکله ۷ کرښې ولیکئ.

۳ـ دتیمور پاتې کسان څنګه خلك وو؟آیا دوی دتیمور ورانې جوړې کړې او که نه ؟

۴ـ دشاهرخ میرزا او سلطان حسین بایقراء دسلطنت دوره دهغو دعلمي او کلتوري خدمتونو سره ټوله بیان کړئ.

۵ـ دهرات دتیموریانو دورې ته یوه عمومي کتنه وکړئ او هم ددې کورنۍ لوی او مهم خدمتونه بیان کړئ .

۶ـ دهرات دتیموریانو دسقوط سبب څه و ، څنګه او دچاپه وسیله داکورنۍ له پښو ولویده ؟

د نشه‌يي توکو پرضد مبارزې وزارت

راځئ چې د نشې د مخنيوي په اړوند خپل ديني، اخلاقي او اجتماعي مکلفيت سر ته ورسوو .

روږدو خلکو سره بايد په مهربانۍ او ښه سلوك خبرې وشي

د نيشه يي توکو د کارولو په وجه کال کې ميليونونه انسانان د مرګ خواته ليږدول کيږي.